# مسعود پیژني؟

## ملي اتل که ملي خاین؟



جنرال رحمت الله صافی



اه مسعود

لیکوال: جنرال رحمت الله (صافی)

د و پیژني

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

د کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم : مسعود وپېژنئ
مولف : جنرال رحمت الله «صافی»
خپرونکی : بخپله
کمپوزر : مجیب الله
د چاپ شمېر : ۵۰۰ توکه
د چاپ ځل : لومړی
د چاپ ځای : پېښور - پاکستان

بسم الله الرحمن الرحیم

## سـریزه:

لیکنه گرانه او لوستنه آسانه وی، لیکوال نشی کولای چې د ټولو لوستونکیو په زړونو او فکرونو برابر ولیکی. کره کتنه په هره ښه لیکنه بیا هم په ډیره آسانتیا کیدلای شی، خو که په اخلاص او په ښه نیت وی خوشحالیږم.

هره لیکنه دوه مـخـې هنداره ده چې پر یوه مخ یې د لیکوال لیکنه ښکاری او پر بل مخ یې د لیکوال شخصیت ښایي. لیکنه د امکاناتو په اندازه ریښتینې وی او کرکه، کینه، غرض او تعصب و نه لري.

د حقایقو پرخر گندولو سترگې پټول ستره گناه او په ملی مسایلو کې ملی خیانت دی، بس دی چې تر اوسه ړانده او کانه پاتې وو. اوس به راشو هغه څه ته چې ما یې د لیکلو تابیا کړې ده.

که څه هم چې جناب احمد شاه مسعود اصلاً د تاجکستان د پار دریا دی خو په پنجشیر کې استوگنه کوی، مسعود په بازارک کې د جنگلک، په پنجشیر کې د بازارک، په شمالی کې د پنجشیر، په افغانستان کې د شمال او په بهر کې د افغان په نامه یادیږی.



Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هر انسان ښه او بد د هغه تر پېژندنې وروسته څرګندېږي. جناب مسعود یوه نړیواله پېژندل شوې څېره ده، د هغه ښه نوم د ټولو افغانانو له پاره ویاړ او بد نوم یې د جرم او ګناه په اندازه د ټولو افغانانو له پاره شرم او خجالت دی. د شاه شجاع یا کارمل په اړه هیڅ افغان، پښتون، تاجک، ازبک و هزاره نشي ویلای چې هغوی افغانان نه وو او یا مور افغانان نه یو.

په دې لیکنه کې له ما سره نه سند شته نه زبات او نه پرې قضاوت کوم، زه هغه څه لیکم چې د مسعود په اړه نورو لیکلي او د اسنادو پر بنسټ قضاوت د افغانانو کار دی. قاضي او څارنوال په خپله افغان دی.

دلته په تفصیل سره د اسنادو لیکنه ګرانه او ناشونې ده نو ځکه یې لنډیز لیکم، که څوک غواړي چې تفصیل وګوري آر کتاب یا لیکنې ته دې مراجعه وکړي.

مسعود ته لاره خلاصه او څرګنده ده، که پر اسنادو نیوکه لري او فکر کوي چې پاک ته دی نو زه مخکې دې راپسې، په نړیواله محکمه کې به شاکي او عارض شي چې ځان پاک کړي، او که دا کار ونکړي نو د چوپتیا مانا رضا ده چې نوم به یې د اسنادو له مخې په تاریخ کې ثبت او پیغور به یې افغانانو ته پاته شي. زه په ډېره ایمانداري او داډ وایم چې ښاغلي مسعود ته زما اخلاص تر بل هرچا ډېر و. هغه وخت چې د روم قیصر سناته روان و چې جمهوري نظام پر شاهي نظام بدل کړي، لومړي ګوزار خپل زوی پرې وکړ او په ژړا یې ورته وویلې چې پلاره ښه پوهیږې چې راته ګران یې خو روم تر تا هم ډېر راته ګران دی. که زه پوه وی چې مسعود د افغانستان



ځمکني بشپړتیا ته ربښتیني دي، د بهرنیانو د ګټو له پاره کار نه کوي، د چا ګوډاګی او لاس پوڅی نه دی، د مرکزي نظام (ملي اوردو) او ملي اداري (حکومت) طرفدار دی او دا یې هیله ده چې غواړي د افغان په صفت په افغانانو پاچایي وکړي نو خدای شاهد دی چې زه به یې تر پایه تر څنګ ولاړ وم. مسعود افغانستان د شخړې د لرې کولو له پاره فورمول نه لري. له بده مرغه داسې لوبې یې پیل کړي چې هغه ته نژدیوالی ستره بدنامي وګرځیدله.

په داسې عصر او زمان کې چې زموږ تاریخي نړیوال دښمن هیوادونه لګیا دي یو ځای کیږي او خپلې ملي ګټې لټوي. مسعود د بهرنیو شبکو په لسانه افغان وژني او د افغانستان ټوټه کیدل غواړي. نن سبا په ټوله نړۍ کې ژبه، قوم او نژاد پرستي مخ پر مړه کیدو ده، تور و سپین، کافر و مسلمان یو ځای په برابرو حقوقو ژوند کوي خو مسعود ژبه، قوم او نژاد پرستي پیل کړي او غواړي چې د افغانانو پخوانۍ ورورۍ پر دښمني بدله کړي.

پنجشیریان چې د هیواد په ګوټ ګوټ کې د کار و روزګار له پاره آزاد ګرځیدل د مسعود له لاسه بې موجبه له هزاره ګانو، ازبکو او پښتنو سره په دښمنۍ اخته شول، سبا به مسعود نه وي خو دده نادودې به پنجشیریانو ته پاتې وي.

لکه څرنګه چې مکروب په کمزوري بدن کې لار پیدا کوي، جاسوسي شبکې هم سست عنصره کسان ګوري چې مات لاس غوندې د دوی پر غاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځړېدلي وي. په ځان متکي او با شخصيته کسانو سره کار نه لري که څه هم دداسې کسانو په اړه ليکنه زما له پاره وړ نه ده خو خبره غځېده او د هېوادوالو حق هم ډېر دی چې سترګې يې وغړېږي.

زموږ هېوادوال بايد وروروړو ښه او بد، تور و سپين، دوست و دښمن، صادق و خاين، تګان- ګندم نماي جو فروش- او سپينه او ګنده هګۍ وپېژني چې دا کار زموږ ټولو دی.

درنو لوستونکو! هرڅوک چې پاست او هر چيرې چې پاست کېدای شي چې هرڅه ولري خو چې وطن نه لري هيڅ نه لري، پوره شل کاله ستاسو په وطن کې اور دی، څوک چې څه وايي د هغه خوله مه بندوي څوک چې څه ليکي د هغو لاس مه نيسئ، د جنايت کارانو پر جناياتو د پردې اچولو ملاتړ مه کوئ.

د اور په لمبو کې زنداني هېوادوال! پر ما او تا حق لري چې آواز يې پورته کړو، ښه خو نشته خو بدو ته به په ډاګه بد وايو. که څوک پر احمد بد وايي او بل د هغه ددفاع او برائت پرځای پر محمود بد وايي دا ستاسو تر منځ تکرونه که په خوله وي يا قلم، د وسلې غوَندې په خپله کورنۍ جګړه ده.

يو ځل بيا هيله کوم چې خپلې ليکي کلکې کړې او شريفانه مبارزې ته د بيشرفانه اعمالو پرضد دوام ورکړی ترڅو د هېواد و د هېوادوالو په ژغورلو کې لږ يا ډېره ونډه ولرئ.



## د مسعود لنډه پېژندنه:

د مسعود کورنۍ د تاجکستان د پار دريا خانان دي چې پخوا راغلي او اوس د پنجشير په بازارک کې استوګنه کوي، د کورنۍ ګڼ شمېر مشران يې په اردو کې منصبداران وو ښه درنه او محترمه کورنۍ ده، پلار يې مرحوم ډګروال دوست محمد خان ډېر ښه او درون شخصيت و. ددوی په کورنۍ کې اخلاقي نيمګړتيا نه وه، ددوی کورنۍ په پنجشير کې سيمه يزو پنجشيري مشرانو انډول نوميالي او اغيزناکه نه وه ځکه چې ډېر ژوند يې په کابل ښار کې تېر شوی دی.

د مسعود په اړه د پاکستان د کورنيو چارو پخواني وزير جنرال نصيرالله بابر په «نوای وقت»، انتوني ډيويس په «ايشيا ويک» او جنرال ګروموف په «سرې لښکرې په افغانستان کې» ليکلي دي چې ګډ لنډيز يې وړاندې کيږي:

مسعود له انجنيري پوهنځي نه د يوه اخواني په توګه د محمد داود خان په فشار له نورو اخواني ملګرو سره پاکستان ته لاړ. مسعود د ذوالفقار علي بوټو د صدارت په وخت کې د جنرال بابر تر څار لاندې پېښور ته نېږدې چراټ کې د کوماندو او ځانګړيو ځواکونو د ښوونکي تر لارښوونه لاندې د ترور، سبوتاژ، ړنګولو، ژروژلو، حملې او نورو چارو زده کړه وکړه. په دې هکله بابر وايي چې مسعود او حکمتيار د نورو په پرتله غوره وو. دوی په پاکستان کې وسله وال و سمبال او افغانستان ته د ړنګولو او د حکومت ضد هڅوله پاره وليږل شول چې کړکيچ جوړ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنرال بابر دغه پروګرام د خپلو کارنامو یوازېنی ستر بریالیتوب بولي.
دهمدغو ګروپونو د ړنګوونکیو چارو له امله د محمد داود خان حکومت د بوټو د حکومت تر ګواښ لاندې راغی چې بوټو یې اټکل کولای نه شو، وروسته تر هغې چې اخوانیانو د محمد داود خان د حکومت پر وړاندې ماتې وخوړه مسعود د پاکستان له لارې منځنې ختیځ ته لاړ او په مصر او نورو هېوادونو کې د دوو نیمو کالونه د پر پاتې شو، د هغه ځای له اخوانیانو سره اوسیده او هلته یې هم زده کړه او عملیات وکړل.

له فلسطینیانو سره یې د اسرائیلو خلاف جګړو کې هم برخه اخیستې ده. پر ۱۹۷۸ کال مسعود بیا پاکستان ته راغی او له استاد ربانی سره په جمعیت اسلامی کې یوځای شو.

مسعود په خپل ورځنی ژوندانه کې د اسلام برهان منل خو له خپلو ډېرو نږدې ملګرو سره یې یوځای شراب هم څښل.

د مسعود اه د فرانسوی نجونو ترمنځ دوه اړخیزه مینه میلان ډېره وه. فرانسوی نجلی ته لوی ویاړ و چې د هندوکش په غرونو کې د یوه اتل په غېږ کې ولویږی او مسعود ته هم د نعمتونو کفران ګران و. ویل کېږي چې یوې فرانسوی نجلی په دې هکله کتاب لیکلی او د مسعود نه بچی هم لری. دا دوې پورتنی خبرې د ډېرو کسانو په اند کوم ملی ارزښت نه لری.

که د دغو پېښو تر شا د ګاسې لاندې نیم کاسه نه وی او کرکیجنې پایلې و نه لری، نو زه هم کوم ارزښت نه ورکوم، ځکه هیڅوک پرښتی او ملایکې نه دی، انسانی او بشری غوښتنې نړیا ډېرې هر څوک لری.



دلته موخه دا ده چې شراب او نجلی د انتلجنس شبکو د «بلک میل» کولو ډېرې اغېزناکې او غوره وسیلې دي. ایوان شمیلوف وایی چې احمد شاه مسعود څه موده د ماسکو په اکاډمی کې له جنرال ویرینکوف سره یو محال ځانګړیو زده کړو په کورس کې یوځای و او د جنرال ویرینکوف د زېږیدنې په نمانځنه کې یې ښې ډېرې ډالی هم راوړې وې. هرڅوک حق لری چې د قانون په چوکات کې هر چیرته لاړ شی خو د مسعود تګ پاکستان و منځنې ختیځ ته، د افغانستان د قانونی دولت پرضد د تروریزم زده کړه او د بهرنیانو په ګټه چورلیدل ملی خیانت دی. په جهاد کې روسیې ته تګ، زده کړه او لیدنې کتنې هم ملی خیانت دی، نورې ډېری خبرې هم شته چې په اسنادو ورته افشاء او رسوا کېدای شي.

## د احمد شاه مسغود شهرت:

په افغانستان کې چې د کمونیستانو او شوروی ځواکونو پرضد جهاد پیل شو ورسره سم د احمد شاه مسعود نوم را اوچت او خپور شو. په پاکستان کې د مسعود رنګین عکسونه پر دوکانونو، د مهاجرو پر کمپونو ښاری ترانسپورت لکه رکشا، تکسی موټرو، او ښاری بسونو او لاریو باندې وزړول شول.

چا «شیر پنجشیر» او چا هم «عقاب پنجشیر» یاداوه. B.B.C تر دې د مسعود له پاره ډېرې ووهلې چې نړیوالو ته یې داسې وښود له چې د مجاهدینو ـاد مسعود او د پنجشیر مانا افغانستان دی. که مسعود نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وی نو جهاد و مجاهدین او که پنجشیر نه وی نو افغانستان نشته.

ما په هماغه مهال له B.B.C سره په مرکه کې ویلي وو چې زموږ هندوکش و سپین غر پوځي اکاډمی دی چې د مسعود په شان جنرالان بې روزلی دی. احمد شاه مسعود افغان دی، زموږ ورور دی خو موږ د مسعود په شان په سلګونو قوماندانان لرو او پنجشیر هم په لوی افغانستان کې یوه غرنۍ ولسوالی ده چې د ټول افغانستان مانا نه ورکوی. تاسې ته ښایي چې د مجاهدینو نورو قوماندانانو او د افغانستان نورو سیمو ته هم پاملرنه وکړئ.

پنجشیر د هندوکش سهیل او د پروان په ولایت پورې اړوند دی. د احمد شاه مسعود د آر سیمه د کابل- سالنګ لویه لار او بیا د بګرام هوایي ډګر وو.

زه ډیر خوښ وم چې مسعود به د سالنګ لار د شورویانو د کتارونو پر مخ بنده ساتی او د ګلبهار و کوهدامن پر لورې مسعود او د کوه صافی له خوا به شهید مولوی شفیع الله د بګرام پر هوایي ډګر ګډه او پر له پسې جګړه کوی. یوه ورځ د افغانستان له پاره د کمیټې له مشرې کرنګکی سره د مولوی شفیع الله لیدنې ته جلوزو کمپ ته لاړم، مولوی شفیع الله ته مو چې دغه خبره یاده کړه چې دی او مسعود ولې په ګډه پر بګرام جګړه نه کوی؟ هغه راته په خندا سره وویل چې زه خو پر مسعود ستړی شوم او س ستا واز دی ته هڅه وکړه. زه خو له کوه صافی نه چیرته نه ځم، زما ځای او جهادی سیمه څرګنده ده. احمد شاه مسعود دې خپلې سیمې ته راشي او د یوه غټ



و نومیالي قوماندان په توګه دې په خپله سیمه او ولایت کې جهاد وکړی.

میاشتې او کلونه تیر شول ،د سالنګ لویه لار بنده نه شوه، پر بګرام جګړه ونه شوه او ان د یو ځل له پاره هم مسعود ګلبهار ته چې د پنجشیر ور دی خپل سر راښکاره نه کړ.

نومونه ډیر وو، ستاینې او تبلیغات ډیر وو، خو د بري څرک نه لګیده. د انګریزانو او فرانسویانو مرستې مسعود ته روانې وې. پر کال ۱۹۸۵ د افغانستان شمالی برخو ته د تالا برفک له نومیالی قوماندان بازمحمد خان سره لاړم، ما غوښتل چې عمومی حالات وڅیړم، د قوماندان بازمحمد او سید منصور نادری تر منځ روغه وکړم او نادری وهڅوم کړم چې د کمونیستانو او شورویانو پر وړاندې د جهاد په لیکه کې ودریږی او د کمونیستی حکومت د ملیشو له مشرتابه نه لاس واخلی. له بازمحمد خان سره تر روغې وروسته، هغه خپل معاذیر بیان کړل او د خبرو په ترڅ کې یې یاده کړه چې د احمد شاه مسعود له پاره پوره اکمالات هم کوی زما سودا او پوښتنې ډیرېدې، کله به د مسعود غږ له تخار او کله به له بدخشانه پورته شو. د مسعود کړه وړه د جهاد د لویو موخو سرچپه وو. موږ به له سربریدونو او څنډو د جګړو له پاره منځیو ته نژدې کیدلو، خو مسعود له منځیو نه څنډو ته تلو. تر پایه پوه نه شوم چې د ښاغلی احمد شاه مسعود د شهرت لاملونه څه وو:

موږ د کنړو، ننګرهار، پکتیا او پکتیکا په هر عملیات کې د عملیاتو په پرتله له لسو نه تر دوو... ... ورې مجاهدین شهیدان ورکړی دی. په هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



عملیات کې یو یا دوه قوماندانان هم شهیدان شوی دی. که تاسې لوستونکی په میرانشاه کې یوازې د ښاغلي مولوی جلال الدین حقانی د شهیدانو ادیره وګوری پوه به شئ چې د شهیدانو شمېرد مسعود له اجیرانو نه ډیر دی. که د پېښور په ناصر باغ او کچه ګړی کې د شهیدانو ادیرې وګوری هک بک به شی، د ننګرهار و پکتیا د لومړیو کلونو ټول قوماندانان شهیدان شول. غټ واړه، ټول د دویم پړاو قوماندانان دی او همداسې په ټول افغانستان کې. د جهاد په ټولو کلوکې د مسعود پوزه وینه نه شوه. ما یې د قوماندانانو شهادت له روسانو سره په وسله واله جګړه کې نه دی اوریدلی، په یوازنی شی چې زما عقیده پیدا شوه هغه په غرونو کې د مسعود چټکه تېښته ده. نورو قوماندانانو د دښمن روغې لواګانې ونیولی، ټانکونه، درنې وسلې، د توغندي، او راز راز الوتکې یې ونیوې خو کابل تر راتګه پورې احمد شاه مسعود ټانک نه پېژاند، یوازې د له ډنډورو نه جوړ شپوې زمری او عقاب وچې د پښتنو پرضد د انګریزانو او روسانو له خوا جوړې شوی وې چې نه یې لامل لاره او نه هم لاسوند.

## له مسعود نه زما ښې هیلې او غوښتنې:

د جهاد له پیل سره چې په پېښور کې کمشنر عبدالله د تنظیمونو مشران وټاکل ورسره سم ښې او بدې انګازې خپرې شوې او رنګارنګ انګېرنې کېدې.

تنظیمی مشرانو ویل چې دا کار ځکه وشو چې افغانیستان ډېر غرنی او لوی هېواد دی، بېلا بېل قومونه لری او په قبایلی دود و دستور ژوند کوي. د دغو وګړیو ملي پاڅون او تر یوې قوماندې لاندې سمبالول ناشوني دي نو ځکه تنظیمونه ډېر شول.

بله غوره خبره دا ده چې که یوه یوګړې اداره او قومانده وي کېدای شي چې دښمن یې سبوتاژ او له ماتې سره مخامخ کړي، خو په ډېرو تنظیمونو کې دا کار ناشونی ښکاري. کېدای شي د پاکستان اټکل دا و چې که یوه یوګړې اداره او قومانده وي نو ملی افغانی بڼه به خپله کړی، خپله خپلواکی به وساتی او د پاکستان له ادارې او اغېز نه به ځان وباسي.

افغانی نظر دا و چې د جهادي ګڼ شمېرو تنظیمونو له لارې زموږ په هېواد کې د بې اتفاقی او خپل منځنی دښمنیو تهداب کېښودل شو. پاکستان به تنظیمی مشران د سکه او ناسکه په ښو کلیو او کلبل ځانته لرې او نژدې کړی. دوی به هم د خپلو تنظیمونو د ستونزو د لرې کولو له پاره دومره د پاکستان لاس پوڅي شي چې خپله ملی پېژندګلوي به له لاسه ورکړی.

ډیرو افغانانو ته پوښتنه وه چې که ډیر او ګڼ شمېر ګوندونه ښه وی نو جنرال ضیاالحق یې ولې په پاکستان کې نه پرېږدي، او که بد وی نو موږ ته یې ولې ډیر کړل؟

حقیقت دا شو چې د جهاد قومانده بشپړه د پاکستان په لاس کې وه د تنظیماتو مشران یوازې امر منونکي وو نه امر کوونکي. په هرحال، هرڅه چې وو هغه تیر شول او نتیجه مو د سر په سترګو ولیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د یوه لوستي او کارپوه مجاهد جنرال په توګه د پیلیزو پړاوونو پرځای پر وروستیو هغو اندېښنه کوله، زما له پاره له هماغه پیل نه تر اوسه د اداري یا حکومت جوړولو اهمیت نه لاره. زه په خپله تر اوسه او په ګانده کې تر هرڅه نه مخکې د یو موټي نظام یا یولاسي ځواک یا اردو پلوی یم. له همدغه امله چې د جهاد بیا ژوندی کولو له پاره په وروستیو کلونو کې د قوماندانانو سراسري شورا جوړه شوه، زه د زړه له کومې خوښ وهیله من شوم.

تل مې فکر او سوچ کاوه چې موږ هم بنایي د مصر، عراق، سوریې، لیبیا او ځینو نورو هېوادونو په شان د یوځي انقلابي شورا لار غوره کړو.

د رباني برخې جمعیت د ځینو قوماندانانو پرمخنیوي سربېره هم د مولوي جلال الدین حقاني په هلو ځلو د ډېرو پښتو ژبو قوماندانو له خوا مسعود د شورا مشرتابه مقام ته وټاکل شو خو بیا هم د ټولنېزې اړتیا له مخې حقاني مشر شو. په دریېمه سراسري شورا کې چې د نجیب نسکورېدل هرومرو او نژدې ښکارېدل ما د لویو قوماندانانو د پنځلس کسیز انقلابي کمیسیون پلان جوړ کړ، په دې کمیسیون کې چې محرم و، یو ځل بیا د حقاني په خوښه مشرتوب مسعود ته ورکړ شو.

زما موخه دا وه چې د نجیب له پرځېدو سره سم به دغه انقلابي کمیسیون د چارو واګې ترلاسه کړي او تر هغې چې په ټول هیواد کې سوله، سمون و واکمنې ټینګه نه وي مشران دې نه راځي او پرې یې نه ښودل شي چې لاس وهنې وکړي. دغه پلان و وړاندیځ د مسعود له خوا و نه



منل شو. په کابل کې مې بیا ورته یاده کړه چې ددې بې موخو جګړو د پای ته رسېدو یوازېنۍ لار د قوماندانانو سراسري شورا راغوښتل دي، بیا یې زما خبرو ته غوږ ونه نیو.

په درېیم ځل مې ورته وویل چې د کابل د اداري له پاره دې تر خپله مشرۍ لاندې د کابل د قوماندانانو شورا جوړه کړي بیا نو حکمتیار او نور ځواکونه نه نشي کولای چې د ملي مجاهدو ځواکونو پر وړاندې خنډ شي، داخل یې هم غوږ ونه ګراوه. ما د زړه له تله غوښتل چې د مسعود په مشرۍ ملي نظام یا اوردو جوړ شي چې د هغه په ملاتړ یو ګړې اداره یا حکومت منځ ته راشي، یو ځل بیا وایم چې دا هیله زما له مسعود نه کېدله. څو څو ځله مې تشویق کړ چې ننګرهار، پکتیا، پکتیکا او د هېواد نورو مهمو ځایونو ته لاړ شي او له قوماندانانو سره خپل نژدې اړیکې وساتي خو پر ده یې اغېز ونه کړ. زه هم ورو ورو ګیله من او نا امیده شوم، کله مې فکر کاوه چې مغرور دی، کله مې سوچ کاوه چې نه پوهېږي، او کله مې دا فکر کاوه چې په غرونو کې ستړ شوی دی د سمې، هوارې او د ښارونو په ژوند بلد نه دی.

مسعود وعده خلاف و، نه یې غوښتل چې په دفاع وزارت کې کارونه جوړ او برابر شي، هرې خوا ته یې لاس و پښې اچولې، له کابل نه یې ډېرې وسلې او مهمات پنجشیر ته ولېږدول.

ما څو څو ځله د ډاکټر عبدالله او جنرال ورد ک په مخکې ورته یاده کړه چې اوردو جوړول غواړي او د وزارت اداري چارې ورسره جوړ شي. خپل کارونه له پلان او وخت سره برابر او سم کړه. په شخصي توګه مسعود تر بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرچا زما د بر درناوی کاوه ، هغه پوه و چې زه ور ته رښتینی یم خو کړنلار یې جلا وه چې زه نه پوهیدم خو اندېښنه مې مخ پر ډېرېدو وه. د ربانی د استوګنځی نه دراوتلو پرمهال مسعود ماته وویل چې بیړه په کار نه ده څومره چې مهال تیریږی په همهغه اندازه ګټه لري. مانا دا چې مسعود غوښتل چې له ښېښو نه پرله پسې لړی وال داستان جوړ کړی چې کټ مټ یې همداسې وهم کړل.

## له مسعود نه پوښتنې:

زه له درنو لوستونکو نه هیله کوم چې پوښتنې په ځیر وګوری او بیا د ښاغلی مسعود په اړه لیکل شوی اسناد ولولي. دا به هرچاته څرګنده شی چې د پوښتنو ځوابونه ټول په اسنادو کې شته، کله چې لوستونکي دا ډ شي بیا پر مسعود قضاوت کول ډېر آسان کار دی. په خپله به هرڅوک حکم او فتوا ورکړی چې مسعود ملی اتل دی که ملی خاین ؟!

که مور په قضاوت کې ژبې ، قوم او نژاد ته مخه کوو او په حقایقو سترګې پټې وو ما نا یې دا ده چې مور د خپل شخصیت غله یو ، زه عینی شاهد یم چې په افغانستان کې د کمونیستی په تور خلکو خپل زامن او ورونه په سزا ورسول. په افغانانو کې یوه دودیز آر چې که په ډېره غوره ښېښه کې د یوې کورنی تورن غړی د بل چا له خوا په سزا ورسیږی هغې کورنی ته تر پایه بدنومي او پیغور پاتې کیږی ، او که په خپله یې په سزا ورسوی هرڅه له منځه ځی.



زه د مسعود له خپلوانو او پلویانو څخه هیله کوم چې د خپل عزت، درناوی او شخصیت له پاره پر مسعود ناپېیلې فتوا او حکم وکړی، هره پوښتنه ځانته جلا څېړنه او سپړنه غواړی چې بیا به نو خبره لویه او کتابونو ته ورسیږی. زه دا کار لوستونکو ته پرېږدم چې په خپله ښېښې وڅېړي او ویې شنې. د بیلګی په توګه: د سالنګ لویه لارد روسانو پر مخ ولې او د څه موخې له پاره بنده نه شوه او اوس د طالبانو پر مخ ستر ستراتیژیکی پلونه ړنګ او لاره بنده شوه ؟ ددې خبرې د څیړنې له پاره خامخا اړتیا ده چې د مسعود اصلی څیره وپیژنی ، که پوښتنې له اسنادو سره یوشان نه وې نو بیا لوستونکیو ته اړنګ پیدا کوی، او که یو شان وې د لوستونکیو مېړانه او زړورتیا غواړی چې پرېکړه وکړي.

۱- ولې احمد شاه مسعود له پیل نه تر پایه د سالنګ لویه لارد روسانو پرمخ ونه تړله؟

۲- ولې مسعود څه نه ویل چې روسانو خپله لویه او کرکجنه تنګخه« محاصره » پر ننګرهار، پکتیا ، او پکتیکا راوسته؟

۳- دغه ځانی او مالی تباهی چې د افغانستان په سهیلي سیمو کې د روسانو د تېریو له لاسه وشوې آیا مسعود ددې څرنګه جاج اخلی ؟

٤- ددې پر ځای چې مسعود ځان دافغانستان کونج ( تخار او بدخشان) ته ویاسي، ولې په خپله ولایتی سیمه( پروان وکاپیسا ) کې نه اوسېده ؟

۵- ولې یې پر بګرام چې د روسانو ټول هوایی عملیات له همدې ادې نه کیدل ان یو ډز هم و نه کړ ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶- هغه مهال چې د قوماندانو دويمې سراسري شورا پرېکړه وکړه چې په ټول افغانستان کې يو مهال عمليات پيل شي، لويې لارې بندې شي، او هڅه وشي چې مجاهدين د ولايتي مرکزونو خواته نژدې شي، ولې مسعود دغه پلان ونه مانه او په ځواب کې يې وويل چې وخت لا ډېر دی موږ بايد له لرې ځنډو نه پيل وکړو.

۷- که مسعود يو جنګي قوماندان و ولې يې د نورو قوماندانانو په سلو کې لس شهيدان ورنه کړل، نه يې په خپله پوزه وينې شوه او نه يې کوم قوماندان شهيد شوی دی؟

۸- ولې يې د انقلابي شورا د پلان او جوړښت وړانديځ ونه مانه؟

۹- ولې يې په کابل کې د قوماندانانو شورا راونه بلله؟

۱۰- ولې يې د کابل د قوماندانانو ولايتي شورا جوړه نکړه؟

۱۱- د مسعود د نړيوال شهرت لاملونه څه وو او په دې لاره کې چا لاس لاره؟

۱۲- د انګريزانو او روسانو له خوا د پښتنو پر وړاندې د مسعود په کارولو کې د هغوی تاريخي او اوسنۍ موخې او غوښتنې څه وې؟ او بيا په دې کار ده څه ګټه لرله؟

۱۳- ولې د انګريزانو د افغان سپورت کميټې پښتنو مجاهدينو ته يو تابليت يو کاپسول، يوه شړۍ د مرستې په نامه ورنکړه او څه چې يې لرل مسعود ته يې ورکول؟

۱۴- ولې د انګريزانو او فرانسويانو د شبکو غړي ان يو ځل د پښتنو سيمو



ته رانه غلل يوه شپه يې د پښتنو مجاهدينو په مرکزونو کې ونکړه خو د چترال په لاره يې له مسعود سره بسترې اچولې وې؟

۱۵- ولې يې يوه پښتنو قوماندان ته د خپل تيتوبل نوم ورنکړ چې د دغه وياړ ور يوازې مسعود وګڼل شو؟

۱۶- مسعود چې په پيل کې د پرچميانو، د دوستم د کمونيستي مليشو او د مزاري د وحدت د ځواکونو په ملتيا د کابل ښار ته ننووت، ولې يې له هغوی سره په جګړو لاس پورې کړ؟

۱۷- له مخالفينو سره د جنګ آشتي، جنګ آشتي موخه څه وه؟

۱۸- مسعود ولې په کابل کې د جګړو د اوږدوالي پلوي و؟

۱۹- مسعود ولې هڅه کوله چې په پکتيا کې مولوي منصور د مولوي جلال الدين او په ننګرهار کې حضرت علي او نور د شمالي خان پروړاندې په جګړو اخته کړي؟

۲۰- مسعود ولې په کندهار کې د پيسو په ورکولو د قوماندانانو ترمنځ خپل منځي جګړو ته لمن وهله؟

۲۱- مسعود ولې له پنجشير نه د وسلو ډيپو او ګدام جوړ کړی و؟

۲۲- مسعود ولې کابل ته له راتګ سره سم په جبل السراج کې کارونه پيل کړل او له لومړۍ ورځې نه يې افغانستان ته په ډېرو کوچنيو سترګو کتل؟

۲۳- مسعود ولې د ترانزيتي لارې او ګاز پايپ لاين مخنيوی کوي چې له افغانستان څخه تير شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مسعود په اړه د ليکل شوو اسنادو لنډيز:

۱- احمد شاه مسعود په پاکستان کې د کوماندو يا چريکي جګړو په زده کړه کې د خپلو نورو ملګرو په پرتله تکړه و. مسعود ډېر غوښتل چې په افغانستان کې د ټولنيز امنيت د له منځه وړلو له پاره د جمهوري دولت پر وړاندې ورانکارۍ لاس پورې کړي.

(جنرال نصيرالله بابر -نوای وقت- پېښور.)

۲- مسعود د پوهنتون پر ځای د انجنيرۍ په پولی تخنيک کې داخل شو، زده کړې يې نيمګړې پرېښوولې؛ له نورو اخوانيانو سره پاکستان ته لاړ او هلته پېښور ته نژدې د کوماندو ځواکونو په اډه چراټ کې د نصيرالله بابر ترڅارنه لاندې د (ISI) له پروګرام سره سم د ځانګړيو جګړو د ښوونکيو له خوا په لومړي پړاو کورس کې ونيول شو.

جنرال بابر صدراعظم بوټو قانع کړ چې ښايي دغه ګروپونه وسله وال اوسمبال شي او افغانستان ته د ترور، سبوتاژ او نورو ورانکاريو له پاره ولېږل شي او له دې لارې د افغانستان دولت وګواښل شي، بوټو او بابر د دغه کار له ګټورو پايلو نه خوښ وو.

مسعود ترڅو بريالیو عملياتو وروسته له ډېرشو کسانو سره پنجشير ته لاړ چې وګړي د دولت پر وړاندې بلوا ته وپاروي، هغه وخت چې ده



له دولت سره په جګړه کې ماتې وخوړه، له ډېرشو تنو نه يې نيمايي له لاسه ورکړل او بېرته پاکستان ته لاړ. (انترس د بورس ابشبا ويک په جبل السراج کې)

۳- احمدشاه مسعود د انجنيرۍ د دويم ټولګی له پايته رسولو نه مخکې له نورو اخوانيانو سره پاکستان ته وتښتيد، په پيل کې د حکمتيار نژدې ملګری و، وروسته دښمنان شول.

مسعود چې په پنجشير کې د دولت له لاسه ماتې وخوړه بېرته پاکستان ته لاړ، په پاکستان کې له حکمتيار سره د دښمنۍ له امله مصر ته لاړ. دوه نيم کاله د منځنی ختيځ له اخوانيانو سره اوسېده او د ځانګړيو جګړو زده کړه يې وکړه، او له فلسطينيانو سره يې هم په جګړو کې برخه اخيستله.

پر ۱۹۷۸ کال مسعود پاکستان ته ستون او د رباني په جمعيت اسلامی کې ورګډ شو. مسعود ډېر ځان غوښتونکی دی، او ظاهراً اسلامی احکام پرځان منی خو د خپلو نژدې ملګريو په منځ کې يې شراب څښل. (سرې لبکرې په افغانستان کې د روسی پوځ قوماندان ب- ګروموف)

٤- د انګلستان له انتلجنس شبکې M16 سره په اوومه ليدنه کې د شبکې مشر وويل چې موږ مسعود ته ډېره پاملرنه لرو، له هغه نه به «تيتو» جوړ شی.

ساندېګول ته چې د وحشيانو پر ځمکه پټه وسله ده دنده ورکړل شوه چې د مسعود فلم جوړ کړی، وروسته بيا M16 مسعود د امريکې جاسوسی دستګاه CIA ته وروپېژاند او د ساندېګول جوړ شوې فلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې هم ورته ور کړه چې د CIA ملاتړ ورسره شي.

(ستره لوبه - ساندیګول ریچارد ګاټ)

۵- احمد شاه مسعود د هندوستان له جاسوسی شبکې RAW سره نژدې اړیکی لري. (د الصبح ۱٤۸ مه ګڼه)

٦- له ماسکو نه د ببرک کارمل راتګ مزار ته او د مسعود و دوستم ترمنځه ائتلاف جوړول. (شب های کابل - جنرال عمرزی)

۷- جمهور رئيس ډاکټر نجيب الله او د دولت له اداري سره د مسعود نژدې اړیکی د سازا د مشر محبوب الله کوشاني او عبدالحميد محتاط په هڅو. (کرباس پوشهای برهنه پا - ډاکټر محمد حسن شرق کمونستی رژیم صدراعظم)

۸- د روسانو او جمهور رئيس ډاکټر نجيب الله په لارښوونه د سيدجعفر نادري او مسعود ترمنځ تړون چې احمد شاه مسعود به پر دولت او روسی ځواکونو برعئ نه کوی، او سيدجعفر نادري به مسعود ته پوره او سم اکمالات کوی. (کرباس پوشهای برهنه پا - دکتور محمد حسن شرق)

۹- د ډاکټر نجيب الله له کمونيستی حمهوری صدراعظم ډاکټر محمد حسن شرق نه د ماسکو په رسمی ليدنه کې ګورباچف وغوښتل چې شمالی افغانستان دې خپلواک شی او د هغه مشري دې مسعود ته ورکړل شی داځکه چې مسعود د غه شی غواړی او د شمالی برخې د رياست هيله لری. (کرباس پوشهای برهنه پا - ډاکټر محمد حسن شرق)

۱۰- د افغا... ن دوېش د هڅو مجرمين رباني او مسعود دی.

(ډوکتور اميريار)



۱۱- روسیان او هندوستانیان د خپلو ګټو له پاره د رباني له نامشروع اداري سره د جهاد د وخت د تړونونو پر بنسټ مرسته کوی.

(د روسی سیاست په افغانستان کې ۱٤ بروس ریچاردسن)

۱۲- روسانو په افغانستان کې د پخوانی تزاری تاریخ د میتودو او اصولو نه کټ مټ استفاده وکړه. هڅه یې وکړه چې ژبنی، قومی او نژادی بېلتون رامنځته کړی، کمزوری اقلیت حق وښیی او د هغه ملاتړ وکړی، د تنخا خوارو باندونو په لټه کې شول. د پښتنو په ډېرو ګړیو قبیلو کې چې د جرګو او شورا ګانو اصول او سیستم لری بریالی نشول. که څه هم چې د ځینوسېمو یو شمېر کسان یې په بډو او په وعدو بې لارې کړل خو د هغوی اغېز د قوم په سطح نه و ځکه ناکام شول. بله دا چې په پښتنو کې به وژونکي او بدچلندي ډېر وی خو ملي خاینان چې کرکې او کینې ولری او هېواد وېشنه وغواړی نشته، د دغه کار له پاره یې احمدشاه مسعود چې ګډه ګروهه او هیله یې لرله پیدا کړ، د مسعود موندل او ښکار د کا جی بی له خوا د افغانستان له پاره ډېره زیان رسونکې پروسه او کود تا کیدلای شی. مسعود په لوړو غرونو کې د کابل او حیرتانو پر لویه لار چې د روسانو یوازېنی ځمکنی لار وه او د رس رسانی حیاتی ارزښت لاره پروت وو.

(بېنګس ۱۰ - ګروموف ۱۹۷-۱۹۸ - سرې لښکرې او د روسانو سیاست په افغانستان کې)

۱۳- پر ۱۹۸۲ کال کله چې افغانانو د شوریانو پروړاندې وسله وال جهاد پیل کړ، مسعود کټ مټ د جانګلدین او بورکی خانوف چې د روسنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مرستو او وعدو د خپل قوم مشران شوی وو او بیا پر ۱۹۲۳ کال کله چې روسان خپلو موخو ته ورسیدل هغوی دواړه یې له منځه یوړل لوبې پیل کړې. روسانو ته ورغی او خپل جنگی او دفاعی پلان یې له ځان سره یوړ، دغه د دروغجن پلان د دردونو، مالي او ځانی تاوانونو له پلوه افغانستان ته ډیر گران تمام شو چې تر اوسه لا دوام لري. (بنیگسن ۱۵- هاتلث ۲۵ د روسانو سیاست په افغانستان کې ۲۱)

۱٤- روسان افغانستان ته د قفقاز او منځنی ایشیا له مسلمانانو سره د تیرو پیړیو د جگړو په اصولو لاړل، خو افغان مجاهدینو د معامله گری او تیرېدنې مخه ونیوه. که مسعود او وروسته بیا ربانی نه وی اوس به حالاتو په روسیه او افغانستان کې بله بڼه لرله.

(بنیگسن افغانستان او شوروی اتحاد مسلمانان ۲۹۲-۲۹۳)

۱۵- د قوماندان واسترو تین د لښکر د استخباراتو مشر تورن فرانز کنلیسوویچ ته دنده ورکړل شوه چې د بډو په ورکولو د مجاهدینو په مشرانو کې لاره او وت ومومي. د هغه ستر بری له مسعود سره تړون و. (شوفیلد ۱۱۳)

۱٦- روسانو احمدشاه مسعود ته د تړون له مخې ۳۵۰ زره امریکایی ډالره بډې ورکړه. (فودوتوف)

۱۷- دیموساید= جینوساید د خلکو وژل د مذهب، قوم او د بهلتانه له پاره + پولیتیساید د خلکو وژل د سیاسي نظریاتو له امله + ماس مرور یا په پتیوستر گوتولوژنه د افغانانو د غه دري ډوله وژنه یا دیموساید: چې موخه



«هدف» یې خپلمنځي شخړې او کورنی جگړه وه، لومړی یې په افغانستان کې په کمونیستی حکومت او وروسته یې په مسعود پلي کړل.

(د شوروی سیاست په افغانستان کې د مرکزی کمیټې د ۱۹۷۹ د اپریل مباشت سند.)

لاسلیکونه: د بهرنیو چارو وزیر گرومیکو، دفاع وزیر دیمتری یوستینوف د کا جی ب مشر، اندروپوف او د بهرنیو اړیکو مشر بوریس پونوماریس.

۱۸- مسعود له روسانو سره لومړی تړون پر ۱۹۸۲ کال د جون میاشت او دویم پر ۱۹۸۳ کال په فبروری کې لاسلیک کړ. پر پیسو سربیره مسعود له روسانو نه دري غوښتنې نورې هم کړې وی چې هغه یې پر روسانو منلې وې:

* له شورویانو سره مخامخ لیدنې کتنې چې د کارمل د حکومت پښه په کې نه وی.
* له خپلو دښمنانو سره د جگړې په وخت کې د روسانو پوځي مرسته او گډون.
* د شمال د تاجکانو سیمو ته حیثیتي. (امستونر ۲۹۲)

۱۹- د استخباراتو د جزوتام مشر «تورن کلینسوویچ» ته د مسعود د ښکار امله د اتل نښین ژمنه او سپارښتنه وشوه. (روسی نخبې ۱۱۳-۱۱٤)

۲۰- کلنسوویچ په خپل راپور کې لیکی چې په یوه هېواد کې ژبنې، قومی او نژادی شخړې د تل له پاره د مور په گټه تمام شوی دی. له همدغه امله زما هم ورته پام شو. ما له مسعود سره پر یوه ناپېیلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړه څوکه ولیدل، هغه غوښتل چې له خپلو هیلو سره سم د خپلواکۍ سهمه راته وښیي. وروسته بیا مسعود د شپې له خوا ماته راغی او لیکل شوی تړون مو لاسلیک کړ. د دهغه له مخې به مسعود د شوروي او د حکومت پر ځواکونو یرغل نه کوي. او د هر پیلوټ چې الوتکه یې ولوېږي په هغې کې به مسعود له موږ سره مرسته کوي. موږ به د وسلو، تجهیزاتو او نورو اکمالاتو اړه د مسعود له خوښې سره سمه مرسته کوو. (شوفیلد روسي نخبې -۱۱٤)

۲۱- ۳٤٥ نمبر هوایي ځواک د نورو تنظیماتو د مجاهدینو په ځپلو او ټکولو کې له مسعود سره ګډه او نژدې همکاري لرله.

(واستروتین، شوفیلد روسي نخبې ۱۱۳-۱۱٤)

۲۲- د ګروال واستروتین د تورن کلینسوویچ چې د افغانانو ترمنځ د تورن فرانز په نامه یادیده له مسعود سره د استخباراتو د ټولګي پټ نوم شاملون ایښی و.

په دغو ګروپونو کې د شوروي د پوهنتونونو زلمي فارغان وزبک و تاجک چې له افغاني فرهنګ سره بلد و او په پښتو، دري او اردو ژبو پوهیدل، شامل وو. (شوفیلد -۱۱۲)

۲۳- شوروي مقاماتو تورن فرانز کلینسوویچ ته له مسعود سره تر تړون وروسته چې دوی یې یوه تاریخي بریالی کود تا بولي ستر واکور کړ چې د مسعود سره همکاریو او اړیکو ته پراختیا ورکړي.

(سودوپلاتوف-۱)



۲٤- د شوروي د پوځي استخباراتو د اداري بریالیتوب په افغانستان کې له مسعود سره مخامخ لیدنې وې.

(ایګوریارسیوویچ ماسکو فسکي کمسولیچ اپریل ۱۳ کال ۱۹۹٤)

۲۵- مسعود ډېره موده پر موږ پورې تړلې و. زموږ د نفوذ آر لامل په افغانستان کې مسعود و، د مسعود سره مو بیلې بیلې موضوعګانې څیړلې او هغه به ډېر وخت هغه څه کول چې موږ ورته ویل.

(د پوځي استخباراتو د اداری مشر ایګوریاریسوویچ ماسکو فسکي کمسولیچ اپریل ۱۳- ۱۹۹٤)

۲٦- په افغانستان کې زموږ د پوځي استوګنې په ټولو کلونو کې له مسعود سره زموږ اړیکو بریالي وده موندله.

(سرې لښکرې په افغانستان کې- ګروموف)

۲۷- زموږ استخباراتو ته خورا پر زړه پورې وه چې مسعود د همکاری لپاره ځان ته رامات کړی چې په پنجشیر او شمال ختیځ کې د خونړیو جګړو د پیښیدو مخه بنده کړی. د څلویښتم لښکر د استخباراتی هڅو ټاکلی پایلې لرلې او پر ۱۹۸۲ کال خپل لوی مقصد ته ورسید.

(سرې لښکرې - جنرال ګروموف)

۲۸- د احمدشاه مسعود سره مو داسې ټینګې اړیکې پیدا کړې چې ان له افغانستان څخه د شوروي پوځونو د وتلو تر وخته په خپل حال پاتې شول. (سرې لښکرې- ګروموف)

۲۹- پر ۱۹۸۲ کال د څلویښتم لښکر د استازیو او شخصاً د مسعود له خوا یو تړون لاس لیک شو چې د هغه له مخې مسعود ژمنه کړې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په جنوبي سالنګ کې به چې دده د بې سیاله باداری سیمه وه پر شوروی کتارونو یرغل ته لار نه ورکوی.
(سري لښکرې- جنرال ګروموف)

۳۰- مسعود خپلو وسله والو باندونو ته امر ورکړ چې د حکومتی عسکرو خلاف دې له جګړې نه لاس واخلی او خپل ټول ځواک دې د نورو مجاهدینو خلاف جګړې ته متوجه کړی.

(سري لښکرې په افغانستان کې- جنرال ګروموف)

۳۱- کې-جی-بی به ماسکو ته یادداشتونه ورکول چې مسعود بنایي د کابل دیموکراتیک حکومت سره د رسمی اړیکو نیولو د پاره رامات شی.
(سري لښکرې- جنرال ګروموف)

۳۲- مسعود دې د شوروی مقاماتو پرځای په خپله د کابل د دیموکراتیک حکومت نه د خپلو نژدې ملګریو زندانیانو د خوشې کولو نیغ پر نیغه غوښتنه وکړی.
(سري لښکرې- جنرال ګروموف)

۳۳- کی، جی، بی شوروی دولت ته یادښت ورکړی و چې مسعود دې په افغانستان کې د اوسنی رژیم د مشروعیت په اړه هڅه وکړی.

(سري لښکرې- جنرال ګروموف)

۳٤- مسعود دې سیاسی- اخلاقی او پوځی ځانسپارنې ته اړ شي، مسعود دې خپلو ملګریو ته په خپله خوله ددې ځانسپارنې خبره وکړی چې د انقلاب ضد ډلې وارخطا شی، او که داکار ونه شی نو سمدلاسه دې د هغه او د هغه د ډلې تېلې ورکاوی پیل شي.

(سري لښکرې- جنرال ګروموف)



۳۵- قانونی خبره ده چې که مسعود په رښتیا د کابل د انقلابی رژیم او د شوروی قواو اود شته والی مخالف وی نو هیڅ شی د هغه د ډلې د وروستې ماتې او یا دده دله منځه وړلو مانع نشو کیدلای.

(سري لښکرې- جنرال ګروموف)

۳٦- زمونږ هدف هیڅکله د مسعود ډلې له منځه وړل او شخصاً دده نابودول نه وو.
(سري لښکرې- جنرال ګروموف)

۳۷- احمدشاه مسعود په خپل موقعیت ښه پوهیده چې د څه شی د کولو اجازه لری او د کوم شی د کولو له امله به یې غوږونه تاوېږی.

(سري لښکرې- جنرال ګروموف)

۳۸- کلینسوویچ بې وسلې له مسعود سره ولیدل او هغه چا چې دغه لیدنه یې برابره کړی وه شپږ لاری کاماز د بوری غنمو، وریجو او د کالیو ډکې یې ورته ورکړې.
(شوفیلد-۱۱۳)

۳۹- مسعود په افغانستان کې زمونږ له پاره شاتنی لار وه.

(او ګینو ک ارتیوم ګرووېک)

٤۰- مسعود له خپلو څو تنو ملګرو سره د فرونز په اکادمی کې زده کړه کوله.
(۱۹۸۳- سودوپلاتوف د کی جی بی پخوانی بو مسر)

٤۱- شاملون (د ځانګړیو ځواکونو ټولی) د مسعود په همکاری په ډیر بري اکمالاتی کاروانونه او کتارونه د کابل لورته راتیرول او ددوی ترمنځه ښه داډ و باور پیدا شوی و.
(شبارتین ۱۸۰)

٤۲- مسعود د ماسکو په اکادمی کې له جنرال ویرنیکوف سره یو ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسېده او د جنرال ویرنیکوف د زیږیدنې د ځانځنې په ورځ یې ډیرې ډالۍ ورورې وې. (ایوان شومیلیوف ۳۲ د روسی سیاست په افغانستان کې).

۴۳- زمونږ اړیکو د مسعود د گوریلاوو سره ډیره عجیبه بڼه غوره کړې وه. د بېلگې په توگه په سمنگان کې سوله او امنیت تامین و د مسعود افراد به له مونږ سره پر زره پوښونو باندې یوځای ناست وو او سگرت به مو څکول. دا واقعیت وو چې د مسعود نفرو له مونږ سره څه کار نه لاره، مونږ یې آرامه پرې ایښې وو خو د کابل د حکومت افراد به یې ځورول. (حسینی-۱)

۴۴- په سیمه کې دوه پایپ لاینه یو ډیزل او بل د خاورو د تیلو تیر شوی وو. د مسعود له سریو سره زمونږ پریکړه شوی وه چې په هواره کې به د پایپونو امنیت مونږ ساتو او په غرنی ځمکه کې به یې د مسعود افراد وساتې. په دغه کار کې مونږ ورته د میاشتې څو ټنه اوړه او یو تانکر تیل ورکول.. (ایوان شومیلیوف-۳۲ د روسی سیاست په افغانستا کې)

۴۵- زمونږ او د مسعود د قوماندانانو ترمنځه اړیکې دومره دوستانه او نژدې وو چې دوی به ډلې ډلې زمونږ چاونۍ ته راتلل او پرتمینې میلمستیاوې به مو یوبل ته ورکولې. زمونږ د فرقې د قوماندان او مسعود ترمنځ د نژدې همکاریو له امله زمونږ ژوند ډیر سوله یز و او یو بل ته مو گوانښ نه رساوه. (هاینامـا، لیپانین ویورچنکو ۱۱۵-۱۳۳)

۴۶- سیدنورالحق حسینی له لومړنیو ژورنالستانو څخه و چې د مسعود او د روسانو ترمنځ د جوړښت گزارش یې ورکړی و. (مصاحبه ۱۰ نوامبر ۱۹۸۶)



۴۷- مسعود له شوروی مقاماتو سره ژمنه کړې وه چې د نورو تنظیماتو مجاهدینو ته به اجازه ورنکړي چې پر روسی ځواکونو یرغل وکړي. (شبارشین د ماسکو لاس ۱۷۷-۲۱۴)

۴۸- احمدشاه مسعود د ابوحنیفه د لیسې تر فراغت وروسته په انجنیری کې داخل او د اخوانیانو په موسسینو کې د ربانی، حکمتیار، سیاف او نورو سره شامل شو. په پاکستان کې د ورانکاریو د زده کړې نه وروسته یې د داود خان پرضد کال ۱۹۳۷-۱۹۷۵ څو څرگندې پېښې ترسره کړې چې وروسته بیاناکامه شول. مصر ته لاړ او بیا د فلسطین د مقاومت تکړه غړی شو او په عملیاتو کې یې برخه لرله. په نژدې ختیځ منځنې ختیځ، لاتین او د ایشیا په سهیل ختیز هیوادونو کې یې تروریستی او پارتیزانی زده کړې کړې وې. پر ۱۹۷۷ کال له ربانی سره په جمعیت کې یو ځای شو.

(د ماسکو لاس ۱۹۹۲ شبارشین ترجمه - پروفیسور دوکتور ابان هیلفانت)

۴۹- په پاکستان کې د جهادی تنظیمونو اطلاعات ربانی د مسعود له لارې روسانو ته ورکول.

(د روسانو سیاست په افغانستان کې ۳۷- ترجمه پروفیسور دوکتور هاشمیان.)

۵۰- احمدشاه مسعود مذهبی معلومات درلودل، په تبلیغاتو کې ماهر وو، پوخې تجربه یې لرله په جوړښتونو پوهیده پر ۱۹۷۹ کال یې په پنجشیر کې د مقاومت گروپونه جوړ کړل او خپل مخالفین او سیالان یې له منځه یووړل، ربانی ته ډیر نژدې و چې په همدغو دلایلو ورته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسعود بلنوم ورکړ شو. (شبارشین)

۵۱- مسعود په زمردو او لاجوردو باندې د نورو د واکمنې د مخنيوی له پاره ډېر کسان ترور کړل. دربانی په توره دوره کې د مسعود دويم پړاو کارنامې پيل شوې چې د افشارو تولوژنه (قتل عام) د کوټه سنگی او د چندولو د بيگناهو وژنې، په کابل ښار کې د خلکو پر سر، مال او ناموس تېري يې ښې بېلگې دي.

(د روسانو سياست په افغانستان کې ترجمه ۳۸- دوکتور هاشميان)

۵۲- پر ۱۹۸۲ کال د کارمل په غوښتنه د جنرال گريگوريانت د ۴۰ اردو د قطعاتو د عملياتو له امله چې د مسعود پر گوريلايانو وشول، مسعود يې مات او تړون ته يې اړ کړ چې د ۱۹۸۴ کال تر اپريل پورې لومړی تړون پر خپل ځای و. مسعود ژمنه وکړه چې د شورويانو پر ضد به تبليغات نه کوی، د شورويانو او د کابل د حکومت په قواو به عمليات نه وی. د نورو تنظيمونو د مجاهدينو مخه به په سيمه کې نيسی د مجاهدينو اکمالاتی لار به بنده وی، پنجشيريانو ته به اجازه ورکوي چې بېرته خپلو کورونو ته راشی او د پنجشير په دره کې به د اوردو قطعاتو سره هم گوتې نه ماتوي. مسعود په ټوله موده کې د کابل له حکومت سره د اړيکو او نژديوالی نه ډډه کوله او له شورويانو سره يې يوازې او مخامخ اړيکي ساتل، چې دا د جمعيت د مشرتابه خپلواک او نېغ سياست و چې له پېښور نه د شورويانو سره کيده. (شبارشين ۱۷۷-۲۱۴)



۵۳- د اسلامی جمعيت مشرتابه له جگړې نه د ځان ساتلو سياست غوره کړ، له همدغه امله يې له روسانو سره د روغې تړونونه کول. دوی خپلې زېرمې ډکې ساتلې چې د شورويانو له وتلو نه وروسته د دښمنانو پر کار ترې واخلي. (د ماسکولاس ۲۱۴)

۵۴- هغه وخت چې د روسانو ځواکونو په وتلو پيل وکړ، مسعود هڅه کوله چې پراخه سيمه تر لاسه کړی او د نورو تنظيمونو ځينې قوماندانان يې د مرستې په ورکولو ځانته جلب او متحد کړل. (د ماسکولاس)

۵۵- مسعود ډېره هڅه کوله چې د شمال پرشتمنو سيمو و تر لاسه کړی او ځانته خپلواکي ومومي. د نجيب د ويمې فرقې څو واره جگړې وکړې او هڅه يې کوله چې د شوروی ۴۰ اردو په افغانستان کې پاتې شی.

(د ماسکولاس)

۵۶- مسعود د شوروی ځواکونو د وتلو پر مهاله کې د هرې خوا او د هر چا له خوا هر راز جگړه بند کړل او په خپلو ژمنو ټينگ پاتې شو.

(د ماسکولاس ۲۱۴ شبارشين)

۵۷- د فرانسې د صدارت مرستيال او بهرنيو چارو وزير له محمد اسلم ختهک سره په خبرو کې د افغانستان د وېش او د شمال د خپلواکی وړانديځ وکړ چې موخه د يې د مسعود له پاره د شمال سپارل وو.

(وفا ۱۵-۱۳۷۵)

۵۸- د هندوستان پوځي کارپوهان له احمد شاه مسعود سره مرسته کوی.

(الصبح ۱۴۴-کال ۱۹۹۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۹- د روسانو په لاربنوونه او څارنه د مسعود تړون په مزار شریف کې د اولیګ نیفلیف په مشری. (سباوون ۱۹۹۶)

۶۰- د روسانو د کتارونو امنیت ساتل د مسعود له خوا د حیرتان او سالنګ په لویه لار کې او پر ځای یې روسانو درې لکه پنځوس زره دالره مسعود ته ورکړل. (سباون)

۶۱- روسانو مسعود ته په نوی تړون کې اوه سوه زره دالره ورکړل. مسعود له روسانو نه وغوښتل چې ددوی ترمنځ به د کابل حکومت نه وي او هر څه ددوی او د روسانو ترمنځ مخامخ وي. د همدغه تړون له امله په پروان ولایت کې جهاد ودرید. (بروس امستوتس ۲۹۲)

۶۲- بنایي افغانستان پر دوو برخو وویشل شی، د مسعود، مزد ک، سنګریوف، جنرال ولنتین، تیګوف او کارمل ترمنځ تړون. (دعوت ۵۷- کال ۱۹۹۶)

۶۳- د وخت جمهور رئیس ډاکټر نجیب الله له شوروي مقامانو نه وغوښتل چې دوی دي له احمدشاه مسعود سره اړیکې جوړ او اسناد دې د منلو له پاره جوړ او لاسلیک کړی. دغه سند په شپږو موادو کې جوړ شو. په کابل کې د شوروی د سفیر، یوری ورونتسوف او لوی قوماندان جنرال وارنیکوف له خوا لاسلیک او د افغانستان جمهوری ریاست وکتل.

(د معلوماتو سرچینه کال ۱۹۸۸ د شوروی اتحاد د ترکستان د اوردو د ۴۰ نمبر ځواکونو لویه قوماندانی.)



د اسنادو مواد:

- د تاجکانو د سیمې تاکل او د هغوی په نامه یې خپلواکول.
- په مرکزی دولت کې د تاجیکانو ځانګړی استازی.
- په رسمی توګه د اسلامي جمعیت پیژندګلوي.
- د تاجکو پوځي ډلې او د تاجکو د ګتیو ساتل او پر حکومتی موخو سربېره د حیرتان او کابل پر لویه لار کنترول لرل او د هغې ساتل.
- د تاجکو په ټاکل شوی سیمه کې د امنیت او د عادی ژوند سمون.
- د دولت له خوا تاجیکانو ته د سوداګری سربرید او اقتصادي ودہ.

۶۴- د مسعود سره په لیدنه کې د شوروی سفیر ورونتسوف او لوی قوماندان جنرال وارینکوف ناست وو. د مسعود نه غوښتنه وشوه چې د کابل له حکومت سره جلا تړون وکړی او له افغان اوردو سره یوځای د حیرتان کابل د لویې لارې امنیت وساتی او یا دې په خپله دغه دنده پر په غاړه واخلی او لیکلې ژمنه ورکړی چې د لویی لارې او د اکمالاتی کتارونو امنیت به ساتی. (شبارشین ۱۷۷-۲۱۴)

۶۵- په افغانستان کې د شوروی قواوو لوی قوماندانی او احمد شاه مسعود ترمنځه پروتوکول:

* د مسعود له خوا د کابل- حیرتان د لارې امنیت ساتل او د سالنګ په سهیل کې په ټوله مانا د عملیاتو بندول او د شوروی د کتارونو تیرول ان یو ډز ته اجازه نه ورکول.
* د مسعود ځواکونه به د تاجکانو او چوګنی ترمنځ د کتارونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسوولیت پر غاړه واخلي. د چور، غلا، لوټمارۍ او د نورو عملیاتو مخه ونیسي د شوروي او د کابل د ځواکونو امنیت په سیمه کې وساتي.

* شورویانو ژمنه وکړه چې دغه خدمت په بدل کې به مسعود ته هر راز اکمالات کوي.
* مسعود به په ټاکل شوې سیمه کې د نورو تنظیمونو مجاهدینو ته د پوځي عملیاتو او تروریستي فعالیتونو اجازه نه ورکوي او د تیر شویو پایپ لاینونو امنیت به ساتي. که د نورو تنظیمونو مجاهدینو په عملیاتو لاس پورې کړ د مسعود ځواکونه به د هغوی مخه نیسي او د شوروي پوځیانو له خوا به د مسعود له ځواکونو سره د توپچي او هوایي بمبارد مرسته کیږي.
* د مسعود او شوروي مقاماتو ترمنځ به لیدنې او وخت پر وخت د معلوماتو تبادله کیږي چې د ورکو شورویانو او د افغان حکومت د افرادو د پیدا کولو په اړه چلند وشي.
* که چیرې په تثبیت شوې زون او سیمه کې ګواښ و اندېښنه ډېرېږي د نوې جګړې د مخنیوی لپاره به ژر تر ژره د مسعود او شوروي مقاماتو ترمنځ غونډې او میټنګونه وشي.
* د لويې لارې په دېرش کیلومترۍ کې به ټول عملیات بند وي. له دې سیمې نه بهر که چیرې د شوروي یا د افغان اردو په ځواکونو عملیات کیږي او یا د مسعود پر ځواکونو د نورو



تنظیمونو مجاهدینو جګړه پیل کړه له هغوی سره به جګړې ته د مسعود او شوروي ځواکونه یو ځای په عملیاتو لاس پورې کوي.

* دغه پروتوکول د ترلاسلیکونو وروسته د منلو او پلي کولو وړ دی.

د معلوماتو سرچینه په افغانستان کې د شوروي عملیاتي ډله دسامبر ۱۹۸۸.

دغه سند د جنرال ګروموف، د شوروي دفاع وزیر، شهنواز تني او احمدشاه مسعود ترمنځ لاسلیک شوی دی.

(ګروموف محدود قطعات ۱۸۸-۱۹۷)

احمدشاه مسعود له شورویانو نه وروسته دویم پړاو ته د انتظار له پاره له ډاکټر نجیب نه چې د خاد مشر وه ډډه کوله او له شورویانو سره یې مخامخ اړیکې لرل.

د مسعود آرموخه د تاجکانو د خپلواکۍ په نامه د افغانستان وېشل و، نه جهاد. (لیکوال)

د شاملون د استخباراتو اداره وایي چې له مسعود سره تړونونو او اړیکو د شوروي لښکر ترو تلو پورې مور ته ډېره ګټه ورسوله په تېره د سالنګ په سهیل کې د مسعود له خوا د عملیاتو بندیز او امنیت ساتل مور ته د ژوندانه مساله وه. (ګروسوف محدود قطعات ۱۸۸-۱۹۷)

د مسعود او د ٤٠ لښکر قوماندانی ترمنځ تړون ډېر ارزښت لرې، لویدیځیانو مسعود ته تل د یوه سپیڅلي مجاهد شخصیت په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستر گو کتلی، که دا سازشونه د جهاد په لومړیو کلونو کې رسوا شوی وی نو دا به د افغان مجاهد ولس ستره تباهی وه او د هېواد په مقاومت کې به روحی او اخلاقی او پوځي ستونزې پیدا شوی وای.

٦٦- د حکمتیار او مسعود ترمنځ اختلاف له همدغه ځایه نه پیل شو، مسعود تل د ٤٠ لښکر په مرسته د حکمتیار پر مجاهدینو عملیات کول. (حسینی-١)

٦٧- د مسعود ټول اکمالات د روسانو له خوا کیدل او سربېره پردې د سالنګ نه د تیریدو له پاره د ټولو سوداګریزو مالو پینځمه برخه مسعود اخیسته. (روبین-١٥٩)

٦٨- په سالنګ کې د مسعود وسله والو له روسانو سره په ټانکونو او زره پوشونو کې یوځای ناست او خندل یې، داسې وخت به راشی چې شورویانو او د مسعود وسله والو به یوځای د نورو مجاهدینو په څپلو لاس پورې کړ.

(سیدانور حسینی سره مرکه- پېښور ١٠ نوامبر ١٩٨٦ د سترګو لیدلی پېښی ١٩٨٥)

٦٩- له شورویانو سره د احمدشاه مسعود نژدې اړیکو د تولستوی د حاجی مراد له مشهور داستان سره شباهت لاره، چې ځینو قفقازیانو په ١٩ پیړۍ کې د خپل ابدی دښمن روسی تزار ځواکونو سره کړی و. مان دا چې مسعود د قفقاز حاجی مراد ته ورته دی.

(شوفیلد ١١٣-١١٤)

د شوروی استخباراتو د افغانستان په نورو سیمو کې هم دېرې هڅې



کولې خو د بغلان و پروان په شان بریالي نه شول. پر ١٩٨٠ کال کې د پخوانی ترون پر بنسټ د سرحداتو وزیر فیض محمد خان پینځه ویشت زره دالر ځدرانو ته د بدې په توګه یوړل خو هلته د ځدرانو اربکیو له دوو نورو ملګریو سره مړه کړل.

٧٠- پر ١٩٨٤ کال د کابل د حکومت یو لوړ رتبه مقام ایتالوی کمونیست خبریال ته ویلی وو چې موږ د مسعود په شان نور قرار دادی قوماندان هم پیدا کړی دی چې دا کار زموږ له پاره خورا ارزښتمن دی.
(زالوکا ٢٤٥)

٧١- که څه هم زموږ ځواکونه په افغانستان کې نه شته خو د احمدشاه مسعود د ترون پایل به زموږ له پاره په راتلونکې کې ډیره ګټه ولری، روسان له پټو سرچینو منابعو نه اوس هم کار اخلی چې په بله لاره خپلو هیلو ته ورسیږی. (پروفیسور الکساندر فیدوتوف (رادیو پیام) سره مرکه)

٧٢- ماسکو په افغانستان کې ستر جنایت کړی دی، شورویانو او افغانی کمونستانو په عمدی توګه کلی له منځه وړل چې خلک نابود شی، د شورویانو د پاکونې سیاست مانا د پښتنو له منځه وړل وو چې لېږ شی، پښتانه په ټولنیزه توګه خپلواکپال دی او پر ځان پردی واکمني نه مني.

روسانو غوښتل چې د پښتنو غرور او قومی جوړښت ړنګ او سیمه یې له استوګنو نه تشه چې ورو ورو تاجکان، وزبکان او تورکمنان د شوروی تر لاس لاندې جمهوریتونو سره یوځای او ګډ کړی. دغه شان

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدلون بې له شکه د احمدشاه مسعود چې یو قراردادی تاجک شخصیت دی کیدلای شو.

(واشنګټن پوست دسامبر ۱۹۸۵ - کلاس ۱۳۱-۱۳۳ او فیدوتوف-۱)

۷۳- د شوروی د استخباراتو کارکوونکي د ګرمن زاکین قادروف احمدشاه مسعود ته د ټرون له مخې دالر ورکول.

(فیدوتوف نوامبر ۱۹۹۲-۵۳ د شورویانو سیاست په افغانستان کې.)

فیدوتوف اوس د کوچما د اوکراین جمهور رئیس ځانګړی سلاکاردي.

۷٤- فیدوتوف د ۱۹۹٦ د فبروری پر ۱۸ له د راډیو پیام سره په لاس انجلیس کې د مسعود د ټرونو په داړه غځبدی وغږېد او هغه یې د شورویانو لاسپوځی وباله. (د روسانو سیاست-۵۳)

۷۵- له شورویانو سره د احمدشاه مسعود د ټرونو پایلې چې د حیرتان او سالنګ لویه لار یې د دښمن د ځواکونو پرمخ پرانیستې پرې ښوده په لاندنیو لیکغو کې وګوری او قضاوت وکړئ. (لیکوال)

روسانو په افغانستان کې په ځانګړې توګه د پښتنو په سېمو کې ډېر ظلمونه وکړل، کلی یې له خاورو سره برابر کړل او پښتانه یې په هلیکوپټرو وژل. کلیوال یې ووژل کرنیزې ځمکې یې ړنګولې، د اوبو بندونه یې ورانول، رسیدلې فصل ته به یې اور اچاوه، رمې او څاروي یې ورته له منځه وړل، دا ددې له پاره چې بیرته خپل هېواد ته راستنه نه شي. (کلاس ۱۳۰-۱۳۳)

د افغانستان په سهیل کې د پښتنو سېمې له استوګنو نه تشې شوې،



د افغانستان د پنځلسو ملیونو وګړیو نه له ۱۹۷۸ نه تر ۱۹۹۲ کال پورې د ملګریو ملتونو د خپرونو له مخې دوه ملیونه تلفات ښودل شوې وو - د ټولو وګړیو په سلو کې اووه لس مړه او تر پنځوس پورې آواره او مهاجر شوی وو. (کلاس-۱۳۳)

پښتانه د قومی پاکونې د سیاست له امله د روسانو له خوا ډېر ووژل شول او ور شړل شول. پښتانه په سلو کې له ۲۵ نه تر ۳۱ پورې د روسانو له خوا مړه شول. د افغانستان له ټولو تلفاتو نه دوه پر دریو اویا درې پېر څلورو برخه وژلي، ژوبل او شړلي پښتانه وو چې دا شمېر د ټولو پښتنو په سلو کې له ۸۰ تر دری نوی پورې پرګنې دي. که له ۱۹۹۲ کال نه وروسته پښتانه بیرته راستانه شوی نه وای نو د زروکالو پښتنو ژندګلوي یې له منځه تله. (کلاس-۱۳۱)

لکه کندهار چې د افغانستان دویم لوی ښار و او ډېر یې پښتانه وو، وګړي یې له (۲۵۰۰۰۰) نه تر (۳۵۰۰۰) ته رسیده. بهرنیانو چې پر ۱۹۸۵ کال لوګر لیدلی و پر ۱۹۸٦ کال له د خلکو نه تش و.

افغانان د چنګیز خان له وحشت نه اووسوه کاله وروسته لا روغ شوي نه وو چې روسانو وریاندې له چنګیزخان نه بدې لوبې وکړې او هر راز نوی ورانوونکې تکنالوژی یې پرې وکاروله. او لا څرګنده نه ده چې افغانان به کله د غه ناتار نه ژغورل کېږي. (کلاس (۱) ۱۳۱-۱۳۳)

په افغانستان کې د روسانو سیاست پرک اچونه وه او آرموخه یې د پښتنو له منځه وړل وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



روسانو غوښتل چې د دغه پلان د پلي کولو له پاره داسې څوک ومومي چې په پیسو، بډو او ژمنو وپېرودل شي، مسعود وچې په تړونونو کې یې د تاجکو د خپلواکېدو ژمنه ورکړې وه. په دې توګه روسانو ځانته ښه ګوډاګی موندلی و. دا د روسانو او مسعود ګډ پروپاګند و چې د پښتنو پردوه نیم سوه کلن پېر یې د ظالم ټاپه وهله.

یو روسی عسکر چې په بغلان کې یې مجاهدینو ته ځان سپارلی و، نیویارک ټایمز ته وویل چې زموږ افسرانو به سر تېر یوته لاربښوونه کوله چې کله پر کوم کلي باندې برید کوو ښایي واړه زاړه ښځې، نر، خره، آسونه، پسونه او غوایه ټول له منځه ولاړ شي او هیڅوک ژوندی پاتې نشي چې وروسته بیا زموږ د کړو وړو کیسې وکړي. که موږ د خپلو افسرانو او مشرانو امر ته اطاعت نه وی کړی نو موږ یې وژلو. (ګاریک زاملبیکوف نوامبر اول ۱۹۸۵)

۷۶- د کابل هوټل پخوانی کارمن عبدالکمال ویلی چې مسعود په هوټل کې له روسی لوړ رتبه افسرانو سره د ۱۹۷۹ په اپرېل کې د شوروی لښکرو له د راتګ نه مخکې څو څو ځله لیدلی و.

(پروفیسور ډوکتور هاشمیان ۵۷ د روسانو سیاست په افغانستان کې)

- موږ د لویدیځیانو د برې له پاره د شورویانو پروړاندې وسیله وو. کله چې روسان له افغانستان څخه وتل، ګورباچوف څرګنده کړه چې موږ له افغانستان څخه وځو خو وینې بهونکی ټپ به پرېږدو چې دا به مکروب واخلي، د روغېدو به نه وی او ګنده به شي. (حاجی محمود ضامن)



-. د افغانستان له پنځلسو ملیونو وګړیو نه دوه ملیونه روسانو ووژل، دوه ملیونه نیمګړي شول، کوچنیان او زلمیان له زده کړې نه پاتې شول، اوس د اقتصادی اړتیا وو له امله له جګړه ماړو ډلو سره تنخاخواره دی، دیرش ملیونه ماینونه د پټ دښمن په بڼه د افغانستان په کروندو کې ښخ دی.

اوس هم هره شپه روسی الوتکې وسلې، مهمات، تجهیزات، چاپ کړي نوټونه او کیمیاوی وسلې د روسیې، ایران او هندوستان له خوا د ربانی له نامشروع اداري سره مرسته کیږي. په کابل کې چور او چپاو دی د خلکو په سر، مال و ناموس پر له پسې تېري کېږي. د شوروی کمونیستی امپراتوری په پرځونه کې افغانانو ستره قربانی ورکړه د افغانانو په قربانیو د امریکایانو او اروپایانو پوځي لګښت په زرهاوو ملیونو ډالره راټیټ شو ځکه چې نور د شوروی له خوا ګواښ نه شته، نړیوالو د افغانانو قربانی هېره کړه او هغوی یې په وینو کې پرېښول.

۷۷- اوسني روسان د پخوانیو هغو په شان خپل وفاداره استازی احمدشاه مسعود پیاوړی کوی، روسیه د پخوانی بلشویک سیاست له مخې ژبني قومي او نژادی بېلتون خپروی چې خپلې ګټې په سیمه کې خوندی وساتی چې ترانزیتي لاره او ګاز پایپ لاین د افغانستان له لارې تېر نه شي.

روسان پوهیږی چې تر هغې پورې چې په افغانستان کې جګړې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی دا فرصت نه لري چې له مور نه د جهاد دوخت د جګړې تاوان وغواړي. روسان هڅه کوي چې په بل نامه بیرته راژوندي شي.

۷۸- ارتیوم بوروویک په روسي مجله او ګونیوک کې لیکلي دي چې مسعود د روسانو له پاره ډیر وړ شخصیت و، هغه وایي چې د مسعود په اډه کې د فرونز د اکاډمي فارغان هم وو، وایي چې مسعود په خپله هم په دې اکاډمۍ کې کورس لوستلی دی.

(جنګ مقدس، فتح نامقدس کرت لویک، ۲۵۰-۱۹۹۳)

۷۹- له شورویانو سره د مسعود د تړونونو په اړه ارتیوم برووییک، په پال کوین ساینس مانیټر ۱۹ اکتوبر ۱۹۸۸ کې هم ډیر تشریحات ورکړي دي وایي چې احمدشاه مسعود د افغانستان دښمنانو چې روسان دي په غیږ کې نیولی دی.

۸۰- شورویانو غوښتل چې په سهیلي افغانستان کې پښتانه ورک کړي چې د شمال په پرشتمنو پنځیزو سیمو برلاسي شي. اوس په بل نامه غواړي خپل نفوذ په سیمه کې ډېر کړي. خپل پخواني وفادار یاران «مسعود و دوستم» یې یو کړل او د خنجان ننګین قرار داد یې جوړ کړ چې د طالبانو مخه ونیسي او دا ځل خپلې اقتصادي ګټې په سیمه کې ځانته وساتي خو ونه شول.

۸۱- د شوروي ۴۰ نمبر اوردو له (۲۰۰۰) سکډ توغندیو څخه یو هم د مسعود پر سیمو ونه ویشت دا ټول د پښتنو پر سیمو چې کلي وران کړي او د خلکو معنویات یې جوکې او تېښتې ته یې اړ کړي وویشتل



شول. (د استخباراتو د مرور جریده جینز فبروری ۱۹۹۲ جلد ۴ نمبر ۲ بالستیک راکټونه په دریمه نړۍ کې. افغانستان ۱۹۷۹-۱۹۹۲ ص ۵۱-۵۸ جوزف برموویز.)

۸۲- د خنجان د ملي خیانت په تړون کې چې د مسعود و دوستم ترمنځ د روسیې د استازي تر څارنه لاندې وشو او وروسته یې د خنجان پول رنګ کړ سید حامد ګیلاني هم ناست و.

(بین المللی مدیا، د دوستم نشرات مجله آینه -۶۳)

- ددغه تړون لاسلیک کولو په وخت کې سیداحمد ګیلاني په مزار شریف کې و، داسې ښکاري چې پر افغانانو باندې د ۱۹۷۹ کال تراژیدي یو ځل بیا راشي.

(د روسانو سیاست په افغانستان کې - بروس ریچاردسن - ترجمه ډاکټر هاشمیان)

۸۳- د پښتون وژنې سیاست د روسانو او مسعود ګډ پلان و مسعود قصداً غوښتل چې د روسانو فشار د پښتنو پر سیمو ډېر شي.

(روزن کلاس ۱۲۹-۱۳۱)

۸۴- د تړون تر لاسلیک وروسته چې په مزار شریف کې دوستم و مسعود غاړه تر غاړه شول د روسانو استازي خبریالانو ته وویل آیا تاسو تعجب کوی چې مو یو ځل بیا د مځکې پر مخ راڅرګند شولو؟

(نیویارک ټایمز)

۸۵- د مسعود او دوستم ائتلاف پر ۱۹۹۲ کال د روسانو په پلان اولاړښوونه و او دا ائتلاف هم د روسانو په هدایت وشو.

(نیویارک ټایمز ۱۷ اکتوبر ۱۹۹۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸٦- روسان په دویم ځل افغانستان ته راغلل په دې توپیر چې پخوا به روسانو مسعود ته لاس غځاوه خو اوس یې مسعود روسانو ته.

(دیوتر - آئینه ٦٣)

۸۷- مسعود له روسانو سره په دغه تکي همکاري کوله چې روسان به د افغانستان د شمال واک مسعود ته ورکوي او افغانستان به په دوې بوتې شي. (بروس ریچاردسن د خطاب سره رادیویي مرکه)

۸۸- د پیښور د ارشاد آباد په لویه غونډه کې د فرانسویانو د افرن ټولنې استازي وویل چې موږ غواړو د افغانستان شمال د مسعود په مشرۍ له سهیل نه جلا شي.

۸۹- مسعود غوښتل چې افغانستان وویشل شي په همدې هیله یې له موږ سره همکاري کوله. (ستر جنرال الکساندر لیاخوفسکي د جنس تلیفوني خبر)

۹۰- استوتس بروس- ۱۹۸٦، ارنولد انتوني ۱۹۸۵، بودانسکي ۱۹۸۷، روزن کلاس ۱۹۸٤، ایډن ۱۹۸۸، رابین بارنټ - ۱۹۹۵، دغه نښې د مسعود او روسانو ترمنځ هنداره.

۹۱- له روسانو سره د مسعود همکاري د قفقاز د حاجي مراد مرستو ته ورته ده چې د ځاله لښکرو سره یې د مجاهدینو پر وړاندې مرسته کوله. (شوفیلد -۱۱۳)

۹۲- روسانو یو ځل بیا مسعود په غیږ کې ونیو. (ساینس مانیټور - ۱۹۸۸)

۹۳- د شوروي پوځونو د وتلو په وخت کې مو وکړای شول له مسعود سره د دواړو غاړو لپاره د منلو وړ تکي لاس ته راوړو موږ له خپل لوري



چمتو وو چې هم له هغه او هم د هغه د سیمې له خلکو سره د خوراکي توکو او نورو شیزونو مرستې وکړو. په دغه لړ کې یوه پوښتنه دا وه چې د ځلوېښتم لښکر د وتلو پر مهال به د کابل- سالنګ او حیرتان لار د حکومتي پوځونو په لاس کې اوسیږي. سربېره پر دې به مسعود پر سهیلي سالنګ اولوېې لارې باندې ډزې نه کوي او موږ هم ژمنه کړې وه چې یرغل ونکړو.

مسعود په خپله وعده ټینګ ولاړ و خو موږ د نجیب الله په غوښتنه ډزې وکړې او له مسعود سره مو ژمنه ماته وکړه، ډیر ژر د مسعود لیک راغی.

«ښاغلی مشاور»!

ما چې ستاسې وروستی لیک ترلاسه کړ نو چمتو شوم چې د کتنې ځای ته درو خوځیږم، غواړم ستاسې د خبرتیا لپاره یادونه وکړم، لس کاله کیږي چې موږ ستاسو شته والي او جګړې زغمو، که د خدای خوښه وي ځو ورځې نور به یې هم وزغمم، خو که تاسو جګړه له سره پیل کړه نو موږ به هم ور ځواب درکړو.

نور مو بس دی له همدې شیبې نه خپلو ډلو ته لارښوونه کوم چې «تیارسی» اوسي. په درناوی ۱۹۸۸ د دسمبر ۲٦ احمدشاه مسعود لاسلیک. (سرې ګیبکرې - جنرال ګروموف)

په پورتني لیک کې مسعود زباتوي چې وروسته له لسو کالونه غواړي ځومرې ځل خپلې ډلې د شورویانو پر وړاندې تیاری کړي هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم په کاغذ او په قلم.

د آئيني مجلې په ۷۲ گڼه کې رپښتينی خبر:

څو ورځې مخکې د احمدشاه مسعود ورور ولی مسعود ۶۰ کيلو ښه زمرد له لندن نه پاريس ته وړی دی، ځکه چې هلته بازار ښه و او بل د زمردو پلورونکی داود مير و. پينځه کيلو زمرد يې وپلورل او نرخ راکوز شو. داود مير وويل چې څه موده وروسته به يې خرڅ کړو. له کانادا نه يې خپل ورور راوغوښت او (۵۵) کيلو زمرد يې کانادا ته وتښتول.

د ولی مسعود له جگړې او ماتې نه وروسته مسعود د فرانسې جاسوسی څانگې ته وويل چې پر سفارت بريښنا او اوبه بندې کړی اوس د داود مير په سترگو تياره خو په زړه کې يې د زمردو رڼا ده.

## جهاد:

د خواږه ژوند نه تيريدل انگيزه او د بلهاری ارزښت غواړی، په افغانی ټولنه کې د هېواد د خپلواکی له پاره د اسلامی احکامو سره سم بلهاري د تاريخ په اوږدو کې تر بل هر هېواد ډېر شوی دی. همدا لامل دی چې افغانان په خپلواک غوښتنه کې نړيوال نوم لری.

په نوي تاريخ کې افغانانو گروهي په ډاډ او د خپلواکی په ارواد دوو امپراتوريو، بريتانيا او شوروی نړيوال تغر لومړی ځل له خپلی خاورې نه ټول کړ.



افغانان د نړی يوازېنی پرگنې دی چې د هېواد په لار کې د ځوان زوی د شهادت مور و پلار او د خاوند يا ميړه شهادت ځوانې ښځې ته مبارکی ورکول کېږي. د کمونستانو او شورويانو پروړاندې په جهاد کې افغانی ښځو خپلې گانې له مجاهدينو سره د مرستې له پاره وپلورلې.

نر، ښځې، واړه، او زاړه د جهاد په خدمت کې ودريدل، جهاد په سر، مال په خوله او قلم پيل شو. شاعرانو د جهاد او د مجاهدينو د سربښندو اشعار جوړول، د موسيقی هنرمندانو جهادی سرودونه او ترانې ويلې. په کورونو، کليو، کمپونو، او غونډو کې سرتر پايه د جهاد خبرې وی. په جهاد کې برخه اخستل او بلهاري ستر وياړ و، همدا لامل شو چې هيڅ افغانی کورنی بې تاوانه پاتې نه ده.

مجاهدينو او مهاجرينو په افغانستان کې د ښارونو او سيدونکو ډير نژدې خپلو او خپلوانو سره خپل اړيکې پرې کړل، په پاکستان کې د خلقی او پرچمی په تور افراطی تنظيمونو د ډيرو افغانانو سره بيحده ظلمونه وکړل. پوهان، روشنفکره افغانان او قومی مشران ترور شول. ډير زيات ناپوه، نالوستي، د کليو ځلميان چې په زور د کمونيستی حکومت پوځي خدمت ته وړل شوی وو مجاهدينو ته ورغلل خو بيا هم افراطی تنظيمونو په خورا بېرحمی د مرگ په سزا گانو ورسول. د افغانانو ترمنځ ډيره بده خبر او کنځل چا ته خلقی او پرچمی ويل وو.

څو کاله د مخه د لندن په يونيورستی کې د محصلو افغانانو له خوا يوه افغانی ستره غونډه جوړه شوی وه، په غونډه کې وينا کوونکی زه، ډاکتر

(c) ketabton.com: The Digital Library



جاوید، محمد عزیز نعیم او کریم میثاق وو. کله چې کریم میثاق په خپل وروستی وار کې د خبرو له پاره دریځ ته ودرید د کنفرانس د ګډون کونکیو له ډلې نه ډېرو جمعیتیانو په چیغو او نارو د هغه سپکاوی وکړ.

هغه یې د ،کافر، ملحد، کمونیست، وژونکي، کی جی بی او هېواد پلوري په نامه یاد کړ، نژدې وه چې لاس ورواچوی او غونډه ړنګه شي.

ما چې کریم میثاق نه پیژانده له غونډې نه مې هیله وکړه چې غلې شی او خبره رسوایی او پولیس ته ونه رسیږی، زه هم ددوی د خبرو تر برید لاندې راغلم خو په یو تویږر چې ته یو مـجـاهد جنرال یې تا ددوی سره پېنځلس کاله جهاد کړی، تا شهیدان ورکړی دی ته وایی او ته وایې، ته څرنګه د یوه جنایتکار او غدار ملاتړ کوې. د غه بهیر د جمعیت په اخبارونو کې هم خپور شو او ماته یې هم نغوته کړی وه، کمونستان په بهر کې پټ ګرځیدل ان ډیرو نژدې خپلوانو ورسره مړی او ژوندی نه لاره. د موثقو شمېرنو له مخې افغانانو یو نیم میلیون شهیدان ورکړل. خو دا یو نیم ملیون په افغـانی ټولنه کې په څلورو او پنځو ملیونو حسابیږی. کله چې د یوې کورنی کـاریګر او ګټه کـوونکې شهـیـد شو نو د هغه لږ تر لږه دوه یا درې ښځه، بچیان او یا مور و پلار د لـه لوږې سره مخامخ شول.

ځوانی ښځې او ماشومان بې سرپرسته پاتې شول چې دا د مرګ نه ډیره بده ده. ماتل ویلی دی چې زموږ شهیدان یو نیم میلیون نه بلکه دافغان ملت ډېر یا په مرک اویا په ژوند له منځه ولاړ. په سلهاوو زره نیـمګړي، کونډې او یتیمان شول. په ملیونو ماینونه د پټ دښمن په توګه زموږ په



هېواد کې پاتې شول، دا ټولې بلهاری مو د اسلامی ګروهو (عقیدو) او د خپل هېواد د آزادی د پاره ورکړې دا د هر افغان هیله ده چې یوه ورځ به تیاره لاړه او رون لمر به راپورته شی.

کله چې به په ژمی کـې هوا سـړه شـوه او لارې به واورو بندې کـړې د تاجکو ، هزاره ګانو او وزبکو د مجاهدینو کتارونه به په پکتیا او پکتیکا کې پاتې او د پښتنو په سېموکې به یې له پښتنو مجـاهدینو سره یوځای جهـادی عـملیات کـول، د پاکسـتـان خـاورې ته د راتګ پرمـهال د شـمال ولایاتو ډېرو مـجـاهدینو خـپلې امنیـتی وسلې د پښـتنو قـومـاندانانو په مرکزونو کې امانت پریښوولې.

هغه مهال د غـه احساس وو چې افغانستـان مور ده او زامن یې پښتانه، تاجک، وزبک او هزاره دی ، د ژبې ، قوم و نژاد خبرې چې مسعود او ربانی پیداکړی، نه وې.

له ما نـه اوس د شرم، حیا او د خـجالت جاج ورک شـوی دی، او کـه مانا لری نو په داسې کسانو کې ولې نه شته؟ زه له تنخاخوارو جګړه مارو کسانو نه چې د ژوندانه د اړتیاو له لاسه له خپلو سرونو سره لوبې کوی څه ګیله نه لرم. خو ځینې روڼ اندې چې په ښکاره لـه ستـمی توب او پرچمی توب نه منکر دی په کومو اخلاقو او مشروعیت د مسعود پلوي کوي؟ زه دا نه وایم چې مسـعـود بد دی او نور ښـه دی، زه دا وایم چې له بدو نه لا بد دا ټول د مسعود له لاسه وشول او لا کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستان په خوښه او سلا بولي.

۵- افغانان وايي چې په افغانستان کې اوږده غمیزه او ستونزې چې اوس یې د سمون لاره ورکه ده، د ملي اوردو نشتوالی دی او دا کار د پاکستان له لوري قصداً پلان او پلی شوی دی.

۶- همدا چې د اعلیحضرت خبره او یا د ملګریو ملتونو د هڅو خبره توده شي ناڅاپه او نابلده او هرڅه بیرته ساړه شي، افغانان دغو کارونو ته پاکستاني لوبې وايي.

۷- د مجددي او رباني د دولت د ریاست دوه او څلور میاشتینۍ نوبتي پروګرام چې په ښکاره د ټوکو خوله ښځه د بدبختیو پیل ګڼل کیږي بنسټ یې پاکستان کېښوو.

۸- افغانان وايي چې د افغانستان په هکله د پاکستانیانو دریځ سرتر پایه پټ دی. ددوی ټول اړیکي له څو تنو ګوډاګیانو او پلورلیو سره دي، موږ نه پوهیږو چې زموږ پر هېواد څه سوداګري روانه ده؟

۹- افغانان وايي چې اسلامي چیغې او سورې د یرې دي خو پر موږ سرترپایه غیر اسلامي ظلمونه وشول او کیږي.

۱۰- افغانان وايي چې نن به تیر شي، سبا به تیر شي، او کلونه به هم تیر شي، موږ به نه یو دوی به نه وي، نوي افغانان او نوي پاکستانیان به راپیدا شي. د پرون په هغه غمیزه کې چې پر افغانانو راغله موږ وروړ هېواد پاکستان ته پناه راوړه خو که په هغو وخت کې په پاکستانیو زموږ په شان بده ورځ او طوفان راشي ددوی د پناه له پاره به یوازې او



یوازې سمندر پاتې وي دا ځکه چې ځینو کسانو وروري او دوستي پر دښمنۍ بدله کړه.

کړ د ګلو کړ چې سیمه دې ګلزار شي
ازغي مه کره چې پښو کې به دې خار شي

په پای کې هیله لرم چې پاکستاني مشران د پاک افغان د خیر ښېګنې له پاره رښتیني ګامونه اوچت کړي.

## ستونزې او چاره

د هېواد د ستونزو نه قیادي شورا د اوبو داسې ناولي ډنډ جوړ کړی دی چې د پاکولو او د لارې ورکولو چاره یې آسانه نه ښکاري.

زموږ د هېواد راتلونکې، اوس و تیر مهال سره تړلی دی. د راتلونکې د اټکلولو له پاره پر اوس مهال پوهیدل په کار دي او د اوس مهال د پوهیدلو له پاره د تیر مهال څیړل ښه رنا اچولای شي.

روسانو په افغانستان کې کټ مټ د روسیې تزاري دولت سیاسي او پوځي تګلارې په خپله پلې او څه ورسره په دې لار کې د ناپوهۍ له مخې نورو مرسته وکړه.

پلان دا و چې قومي مشران له منځه یوسي دا کار له محمد داود راهیسې وشو او د نجیب ترپایه یې په افغانستان کې بهیر وموند.

په دې اړه په پاکستان کې هم ښه مرسته ورسره وشوه، روڼ اندي، هېوادپال او مخور افغانان څه ترور او ډېر بهرته په تېښته اړ شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم پلان دا و چې د قومونو او قبایلو ترمنځ بېلتون او کرکه منځته راوړي. دا کار په افغانستان کې دننه په ملیشو پلی شو. د جمعه اڅک په مشری د پښتنو ملیشې په شمال کې او د دوستم په مشری د وزبکو ملیشې په سهیل کې وکارول شوې. په دې اړه د جهاد په لیکه کې حکمتیار او ربانی هم ډېره مرسته ورسره وکړه. په تېره د پښتنو په ځینو سیمو کې د حکمتیار او ربانی د مجاهدینو ترمنځ داسې خونړی جګړې وې چې هغو سیمو ته د دولتی ځواکونو د لیږلو څه اړتیا و.

افغان ملت په تنظیمونو جلا او وویشل شو او جهادی مشري د افغانانو د تاریخی دود سرچپه د ملی مشرانو پر ځای مذهبی کسانو ته ورکړ شوه. دا کار پاکستان وکړ.

بل پلان دا و چې لړه کې خپلواکی غوښتنې ته وهڅوي او هغوی ته ځان پلویان، خواخوږي او دوستان ښکاره کړی. د دغه پلان د پلي کولو له پاره سلطان علي کشتمند وکارول شو خو د دولت په کچه د دغه پلان بریالی نه شو. وروسته یې دا کار په ایرانیانو پیل کړ چې د هغوی په لاسوهنو بریالي شول روسانو زیار ګاله چې په لړکیو کې ځینې قوماندانان په بډو او ژمنو واخلی، د دغه پلان د پلي کولو له پاره یې احمدشاه مسعود پیدا کړ.

له مسعود سره یې هو کړه وشوه چې دی به د شمالی افغانستان واکمن شي خو دا کار هله کیدلای شی چې سهیلي افغانستان له جګړو نه ستړی او ستومانه شی او پښتانه داسې تباهی ووینی چې شمېر یې راټیټ شي. د همدې هوکړې له مخې مسعود د شوروی لښکرو پرمخ د جهاد پرمهال د



کابل سالنګ لویه لاره پرانیستې پرېښووه او شورویانو په ټول ځواک سهیلی افغانستان ړنګ کړ. دا پېښه جلا څېړنه غواړي چې ډېر کتابونه پرې لیکل شوی دی.

د هندوکش په شمال کې له پیل نه تر پایه د سکد، اوره ګان، لونا، چروکی توغندیو یو ډز نه دی شوی ټول په سهیل کې شوی دی.

که د مهاجرینو او د جهاد د شهیدانو، د کلیو د ورانیو، پر حمڅکو د ماینونو، ژوبلو، کونډو، یتیمانو، تاکلي لیکل شوی شمېرنه وکتل شی هر څه په آسانه څرګندېدای شی.

د انګریزانو او روسانو دا سیاست بېل یې کړه، اېل یې کړه یو شانته دی خو نه پوهېږم چې چا له چا نه زده کړی دی.

د پښتنو په تباهی کې په خپله د پښتنو ګرمه تر بل هرچانه ډېره ده. نورو اقوامو په کمونیستی اداره کې خپل مجاهدین یا مخالفین وساتل، خو پښتنو کمونیستانو داسې ونه کړل.

د مجاهدینو په اداره کې هر قوم خپل کمونسیتان په غیږ کې ونیول خو پښتنو کمونیست خو لا پرېږده چې د ږیرې د نه لرلو په ګناه ان خپلو خپلوان ترور او ووژل.

له محمد داود خان څخه تر طالبانو پورې په پښتنو کې ټول ناپوه، احساساتی، تش چټک افراط منځته راغی. دیکتاتور پښتون، اخوانی پښتون، وهابی پښتون، مولوی، ملا او طالب پښتون.

داسې یو قوم او نژاد چې په تعویذ و په تومار له خپلې میرمنې نه بچی

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړی اویا د ناولو لارو نه د پیسلنیو کار واخلی د انتلجنس شبکو له پاره د چالو او پنیر غوندې دي. لومړی عمل وکړی بیا فکر چې بیا ناوخته وي. دا ټولنیز آر دی چې تر جګړو وروسته څوک هېواد پالو بریالیو ته واک نه ورکوی، هرڅوک هڅه کوی چې پلورلي او ګوډاګیان قدرت ته ورسوی.

د لړکیو مشران تل خپلو لاربنوونکیو ته د خپلو ستونزو له امله ربښتینې پاتې کیږی. د ربانی په څلورنیم کلنه واکمنی کې د احمدشاه مسعود لوبې د افغانستان په سهیل کې، د جنګ او سولې، جنګ او سولې په پروګرام د کابل ښار له منځه وړل، د قیادی شورا بیځایه منډې را منډې او بډې اخستل په ننګرهار، پکتیا او کندهار کې د اورلګولو د سیسې جوړول دا ساده او ناڅاپی کارونه نه وو. جګړې ګټونکی نه لری خو د روسانو او مسعود د تړون له امله آر ګټونکې روسان او بایلونکي ټول خو تر نورو نه ډېر احمدشاه مسعود ښکاری. د مسعود ټولې هڅې خوب، خیال او محال شوې.

د طالبانو ظهور او د هغوی موفقیت په جنوبی افغانستان په سهیل کې د طالبانو څرګندېدل او بریالیتوب د تعجب وړ خبره نه وه. د هندوکش په شمال کې د دوی ستونزې هم څه تصادفی کار نه و.

هرڅه په جوړ شوې پلان او په بریالی توګه ترسره شول د مسعود د وسلو او مهماتو ذخیره کول، په پنجشیر او تخار کې د روسانو له پخوانی تړون سره سم او برابر و. د مسعود ستره تېروتنه پر روسانو تکیه او ډاډ و او تر افغانانو د بهرنیانو اغېز پرې له ورایه څرګندېده. هغه څه چې مسعود



غوښتل هغه د روسانو یوازېنی او وروستی پلان نه و چې مسعود دې د شمالی افغانستان باچا شی او یا دې لوی تاجکستان جوړ کړی. روسانو ته له یوې خوا د مسعود ناوړتیا څرګنده وه له بلې خوا هغوی له پخوا نه د وزبکو او اسماعیلیه ملیشې هم جوړې کړې وې. د روسانو او ایرانیانو ډېر نژدې او دوستانه اړیکې د دې لامل شول چې وحدت هم د خپلو پخوانیو ملګرو پر لیکه ودروی، مسعود ته په شمال کې د ده له هیلې پر ته درې نور سیالان پیدا شول.

د شمال اتحاد څه بنستیز لامل نه لری. یوازې د طالبانو د مخنیوي له پاره جوړ شوی دی، نن که د طالبانو خبره یوه لوري ته شی پر سبا به په شمال کې خونړی جګړې پیل شی.

که د راتلونکو پېښو په څېړلو کې پر سهیل پرده واچوو یوازې شمال ته پام واړوو ربانی او غفورزی او سنی اعلانونه او کابینې له ببخه د اوریدو ارزښت نه لری. د ازبکو ملیشو له پاره جوزجان د د پنځیزو سرچینو او مزار شریف له سیاسی پلوه ارزښت لري، په دې سیمو کې دوې سیال نشی منلای.

هزاره ګانو ته د حاجی ګګ د وسپنې کان د بامیانو په لس کیلومتری سهیل او د اش پشتې د ډبرو کان د بامیانو په شپیته کیلومتری شمال کې پروت دی. بامیان د دوی له پاره هیڅکله سیاسی منځی نشی کیدلای، دا یوازې او سنی لاملونه دی چې د بامیان نوم یې اوچت کړی دی، نه غواړی چې اوم او بې بنسټیه یووالی د آر موخې پ، ښکاره کولو له منځه یوسی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان یوازې کړی. دوی مزار شریف ته یوه بانه چې هغه روضه، مبارکه ده لرله. بله یې جوړه کړه او عبدالعلی مزاری یې په مزار شریف کې ښخ کړ، له ډیرو کلونو را پر دې خوا هزاره ګانو هڅه وکړه چې خپل شمېر په مزار شریف کې ډېر کړي، اوس هزاره په هغه ځای کې ډېر دي.

هزاره ګان یوازې یوه لاره لري چې هغه کال دولس میاشتې بهرته ساتلای شي او هغه د بامیان، اش پشتې، دو آب، رباتک او مزار لاره ده. له مذهبی پلوه د ازبکو او هزاره ګانو ترمنځه ډډون ډیر دی.

کالي زېرمې، سیاسی منځی، مذهبی ډډون، لېوالي او ډېروالی له ګاونډیو سره اړیکې به لامل شی چې ډیر ژر د ازبکو او هزاره ګانو ترمنځ جګړه ونښلي او ددې جګړې آرموخه به پر مزار شریف لاس بری وي.

وروسته له هغې چې د طالبانو پلاوی په نا قانونی واک له عبدالمالک سره د خپلواکی هوکړې ته ورسید د پاکستان نیشن اخبار او ځینې نورو هم ولیکل سمدلاسه هزاره ګانو او اسماعیلیه وهم د خپلواکی غوښتنه وکړه دا څرګندونې ددوی ترمنځ د ګواښ زنګ دی چې په طالبانو پورې څه اړه نه لری که خبره پر شمال او سهیل شوه بیا څه یو او څه څلور یو شی دی.

د مزار شریف په اوسنی کړی کې اسماعیلیه له هزاره ګانو سره سیاسی دښمني لا پر پرده چې ګروهیزه دښمني هم لری. که د وزبکو او هزاره ګانو ترمنځ جګړه وشی نو اسماعیلیه به د خپلو ستونزو له امله د وزبکو له ملاتړنه لاس پر سر شی. د هزاره ګانو او وزبکو جګړه به ډیر ژر ګاونډیو هېوادونو ته هم وغځېږي. ایران به پر هزاره ګانو او ازبکستان پر وزبکو



ودریږی. د ایران و ازبکستان ترمنځ اړیکی هم ښه نه دی او ان چې ترکیه به هم ډیره لرې پاتې نشی. که څه هم په شیبر، غوربند او په همدغو سیمو کې اسماعیلیه ډیر دی خو مخه نه لری. په تالا برفک کې کرملی قوم پروت دی (سنی هزاره) چې له ډیرو کلونو را پر دې خوا د اسماعیلیه وو سره دښمني او جګړې لری. د بغلان په پلخمری او دوشی کې ډېر اسماعیلیه پراته ده. د جهاد له پیل سره سم د دوشی او پلخمری ډېر پښتانه یې مهاجر کړل او د هغوی ځمکې یې ونیوې. هغه مهاجر تر اوسه لا په جلالا او سوابی کې استوګنه کوی، څو څو واره یې غوښتنې وکړې خو بریالی نشول چې بیرته راشی. بدخشان ډېر اسماعیلی دی. په دغه شمېر احمدشاه مسعود ته په شمال کې اندراب، نهرین او شکمش پاتې کیږی چې هغوی هم د حقجو او سیدکریم تر لاس لاندې وه.

په تخار کې تاجک، ازبک، پښتانه او اسماعیلی ګډ دی، مانا دا چې مسعود او سید نادری د شمال په ټولو سیمو کې کلی پر کلی ګډ پراته وه. په بغلان، تخار او کندوز کې ددوی دواړو نه بیا پښتانه او ازبک ډیر او پیاوړی دی. که پښتانه او وزبک له پامه وباسو بیا هم د مسعود او سیدنادری جوړه به د اسرائیلو او فلسطینیانو غوندې وی مانا دا چې جګړې به پیل او اوږدې شي. د بدخشان، شاه سلیم، ګرم چشمې ترچترا له پورې اسماعیلی دی چې مسعود به له ټولو خواوو نه کلابند وي.

که مسعود په تاجکستان کې ملاتړ لری د سیدنادری د ملاتړیو شمېر ډیر او هم پیاوړی وه. د مسعود د شورای نظار د جهاد مهال خوبونو تعبیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناسم و. په هغه وخت کې اکمالاتی بهیر و چې د ه ځنګ ته رامات وو. په نهرین او اشکمش کې د حقجو او سید کریم واک و چې د مسعود ډلې به تخار ته په پټه تیریدلې دوی سخته دښمنی لری، په مسعود باندې د کنړ د وهابیانو تو که وشوه.

د وهابیو عربو د پیسو په وخت کې تر نورستانه پورې وهابیان پیدا شول خو کله چې بوجی او پیسې پای ته ورسېدې وهابیان هم ورک شول.

نن سبا چې مسعود د طالبانو پر وړاندې جنګیږی او د شمالی وال د هغه پلویان دی، دا خبره د مسعود پر قومی شخصیت او پرستیژ پورې هیڅ اړه نه لری. جګړې ته مسعود قومی رنګ ورکړی دی. او که دا خبره نه وی نو بیا د شمالی د کوهدامن د زلمیو دربدل د مسعود تر شا ناشونې دي. د شمالی خلک، مسعود په خپلو سیالانو کې هم نه شمېري، نېږدې زر کاله پخوا د انګلیسانو پاچا ارتر ته د هغه ډیر وفادار جنرال راپور ورکړ چې ستا حرامی زوی په ارګ کې ستا د خبرو پر ګردې میز اسونه وخېژول او هغه یې مات کړ. ما ته اجازه راکړه چې ویې ځپم. ارتر ورته وویل چې خبرو میز مات شی بیا غچ جګړه پیل کیږي چې پایله او پای نه لری او زه نه غواړم چې د داسې د جګړو سرلاری شم.

تقریباً پنځوس کاله پخوا په پېښور کې د سبزعلی کمیدین ریکارد و. سبزعلی ویلی چې خوب مې لیده چې په کټ کې پروت یم او کټ مې آسمان ته پورته شو، ګورم چې آسمان سوری سوری دی، پوښتنه مې وکړه چې دا سوری د څه له پاره دی؟ چا راته ځواب راکړ چې دا د هرچا د برخې سوړې



دی. زما د برخې سوړه ډیره تنګه وه، ما وغوښتل چې د خپل قسمت سوړه لویه کړم چې لاس مې ورننه یوست درد راویښ کړم.

څوک چې په خوب کې د قسمت سوړې لویه وی له هغې نه خامخا دردونه پیدا کیږی. نظام او اداره دوه جلا شیان دی تر هغې چې نظام یا ملی اوردو نه وی د اداری یا د حکومت جوړول به د ربانی د دولت مانا لری. کله چې نظام یا ملی اوردو جوړ شی بیا اداره یا حکومت هرڅوک جوړولای شی. په پښتځو اردوګانو کې د فدرال مانا وېشل دی. طالبانو ته د ډېرو افغانانو ښه کاته آر لامل همدغه و چې افغانستان تر یوه نظام لاندې راشی او بیا به د هغه په ملاتړ د خلکو په اراده ملی حکومت جوړ شی. په افغانستان کې ٪۹۹ افغانان ددې کار مخالف دی. نن سبا د نړی هېوادونه هڅه کوی چې پر تیرو دښمنیو پرده واچوی او د نوي مهال په غوښتنه سره یو شی. له بده مرغه چې زموږ یوشمېر بهرني ګوډاګیان د نا شوني وېش له پاره خپل هېواد ړنګوي.

جګړه مارې ډلې چمتو نه دی چې خپل توپ و توغندی یوه ناپېیلي ملی اوردو ته وسپاری دا پلان د محمود مستیری له څرګندوې سره سم د مسعود له خوا ونه منل شو.

که داسې وګڼو چې طالبان نشته بیا دې قیادی شورا راټوله شی او چار واګې دې په لاس کې واخلی له همغې ورځې نه بیا له بدنه لاډېر بده ګوره. اوسنی توپونه او راکټونه دافغانانو د ځمکنی بشپړتیا د ساتلو پرځای د افغان وژنې او د هېواد د ویجاړونی له پارچه کیدو د پاره دی. که طالبان په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېواد کې د یوه ملي اردو د جوړولو متره ولري نو دا به د افغانانو له پار
تاریخي ویاړوي. له ما سره دد طالبانو د اداري د جوړولو څه اندېښنه ن
شته، حکومت داسې ماشین دی چې په خپله به ورته وړ پرزې پیدا شي او
که د ملي او ناپیيلي اردو د جوړولو متره ونه لري نو د بې ارزښته جګړو د
د لړۍ دښمن یم.

بیا دې نو زما په اند افغانستان د ملګرو ملتونو تر څارنه لاندې د
سترو هېوادونو په ژمنه لېږ تر لږه تر شلو کلونو پورې یو ناپیيلی هېواد
وپېژندل شي. درنې او منځنۍ وسلې دې ټولې او بیا تخریب شي د وسلو
پرځای دې تخنیکي او کرنیز لوښي افغانستان ته ورکړل شي. افغانستان
دې د پخوا په شان په تنظیمه ریاستونو یا نائب الحکومه ګانو جلا او د
منځنی حکومت تر اداري لاندې وي.

دا کار ښایي د طالبانو د مشرتابه د خوا په چټکتیا سره پرمخ ولاړ
شي. د طالبانو له پاره د ربانی څلورنیم کلن پېر ستر درس او عبرت دی. د
جګړې په اوږدیدو به طالبان هم خپل ملي ملاتړ له لاسه ورکړي، نظام او
سیاست یو د بل بشپړوونکي دی. د بې پایلې جګړې پرځای دې له سم
سیاست څخه کار واخستل شي، د طالبانو د بري معیار د ولس ملاتړ دی.

د هېواد نوم افغانستان دی، طالبستان نه دی، ولس یې افغانان دي
نه طالبان، که هرڅوک پر دې لار لاړ بریالی دی او که نه نو پر یې ښه
شه. (!)



## د افغانانو پرېوتل:

رایادېږي چې د سردار شاه محمود خان پرمهال به د ښېلا، ښېلو ژبو، قومونو مشران راتلل او یا به راغوښتل کیدل پر دېرو سېمه یزو، ملي او نړیوالو پېښو به وېناوې کېدې. د ستونزو مخه به په خپل وخت کې نیول کیده، ولسي مشران، خانان او اربابان د ولس و حکومت ته د ډاډ و باور خاوندان وو.

چې کله به د پښتنو ترمنځ او یا د پښتنو او هزاره وو، تاجکو او نورو ترمنځه څه لانجه پیدا شوه د دواړو خواو استازي به وټاکل شول په جرګو او شوراګانو به ستونزې سمې شوې. په اوږدو کې هم هڅه کیده چې د سمو او باوري پښتنو، تاجکو، هزاره وو او نورو کورنیو غړي افسران شي. د انګرېزانو ټولنیزه جوله زموږ په شان وه، دوی هم سر، لارد، دوک، ایرل، نایټ او همداسې نور نومنه لرل. پر ۱۹۷۸ کال چې زه دوهم ځل د مهاجر په توګه لاړم د ښارګوټي په اخبار کې لیکل شوی وو چې د پولیسو د زده کړې له پاره د کوماندو کارپوه افسر ته اړتیا ده.

له اخبار سره د پولیسو څانګې ته لاړم، د پولیسو مشر چای راکړل ما ورته یاده کړه چې ما په افغانستان، شوروی، امریکا او انګلستان کې زده کړه کړې او د کوماندو افسر یم. هغه راته په ډېر سړیتوب وویل چې تر څو اووه پښته انګریز نه وی موږ یې نبولای نه شو.

په انګرېزانو کې د تکنالوژی له بدلون سره ټولنیز بدلون هم راغلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، خو بنستیونه لا د پخوا په شان پاتې دی. اوس هم "سول سرویس" چې ډیره ارښتمنه څانگه ده د باوري خبرو په لاس کې ده.

د سردار محمد داود خان له راتگ سره سم ټولنیز تغیرات بدلونونه راغلل، سردار محمد داود خان پر منځنی حکومتي کړی تکیه وکړه د خانانو، اربابانو، قومی مشرانو اداری بنې ته یې د پای ټکی کېښوو، ولسی جرگه او شوراگانې له منځه ولاړې، په اوردو کې هم ډیر بنسټیز بدلون راغلی د لوی درستیز ډگرجنرال غلام فاروق خان پر مهال په پټو سترگو د افسرانو د شمېر په پوره کول پیل شول، پخوانی سیستم له منځه لاړ. په افغانستان کې د دینی علماوو او روحانیونو درناوی د نړی تر بل هر اسلامي هېواده ډیر و خو په ټولنه کې د هرچا ځای جلا او څرگند و.

ددرنو علماوو او روحانیونو ځای جومات او خانقا د خان او ارباب ځای دیره، اجره او خوشخانه وه. په داسې حال کې چې د افغانستان په اقوامو او قبایلو کې صنعتی، اقتصادی، کرنیز، سوداگریز، فرهنگی، تکنالوژیکی هیڅ بدلون نه و راغلی ظاهری تقلیدی بڼه یې لر له ټولنیز شکل له منځه لاړ. سردار محمد داود خان ولسی مشران له منځه یووړل، تره کی مړه کړل، امین ووژل، کارمل ساه ترې ووېسته، نجیب هم څه لاس ونه نیو او له ټولو نه پر مخ لاړ.

په دغه بهیر کې له پیله تر پایه د روسانو لاس و. روسانو په افغانستان کې د روسی تزاری حکومت له تاکتیک نه کار واخیست، د بېلتانه د خپریدو له پاره یې د یووالي کړی له منځه یووړې.



نجیب د قومی ملیشو په جوړونه او کارونه قومی بېلتون وهڅاوه. پاکستان د جهاد د ملاتړ تر نامه لاندې د جومات و خانقا کسانو ځای د دیرې، اجرې او خوشخانې کسانو په ځای بدل کړل، مشران تسبیح پر لاس جوماتو ته ولاړل، دراّنه علماوو او روحانیونو سیاست ته لاس کړ، قومی مشران په دینی چارو نه پوهیدل او روحانیون او علما په ملی چارو خبر نه وو. دا خو سمه ده چې په جهاد کې تاریخی سابقه لری خو له سیاست سره یې کار نه و. هغه وخت چې له اقتصادی ستونزو سره په خپله مخامخ وو او د خلکو په مرستو یې ژوند کاوه توصیه پر صبر او قناعت وه، شعار دا و چې پیسې د لاس خیری دی، یا هندو هم پیسې لری، په لمانځه او خیرات کې دوعا دا وه چې لویه خدایه له بدو کارونه مو وساتې، په بدو لاس مه راکوې، بدو ته په تگ مو پښې ماتې کړې، بدو ته په لیدلو مو سترگې ړندې کړې. خو کله چې د دالرو ډنډو نه جوړ او لامبو پیل شوه شعار بدل شو. اوس وایی یاالله په نعمتونو دې شکر او کبیره گناه مو راته عفوه کړې، مانا دا چې زه به گناه کوم او ته یې راته عفوه کوه. (!)

دوی ملی احساس نه لاره او په ملی مسوولیت نه پوهیدل چې د افغانستان په تاریخ کې افغانان او قومی او مشران د غیرت او میړانې پر ډگر له سر و مال نه تیر شوی دی.

دوی دا عقل نه لرې چې افغان به د روسانو یا ایرانیانو او یا د نورو گوډاگی نه شی. له نن نه نېږدې پېنځه دیرش کاله پخوا د اجمل خټک د خولې خبره ده چې د مهمندو یو افغان مالتې خرخولې ما ورته وویل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځه مالتې پرېږده زه به ډېره تنخواه درته ورکم، مالتې والا راته وويل چې له څه امله به ډېره تنخواه راکوې. ماهغه ته وويل چې څه سخته دنده نه ده د پېښور په راډيو کې د افغانستان د حکومت پروړاندې هغه څه وايه چې موږ يې درته وايو. مالتې والا افغان راته وويل چې غريب خداى کړم بې غيرته چا کړم؟ چې تول پاکستان راته ځوک راکړى زه به د خپل حکومت سپکه ونه وايم. په انګرېزانو کې ډېره مشهوره خبره ده چې آر افغان د اړتيا له مخې کرايه کېداى شي خو پيرودل کېداى نشي. دا خبره مايکل ډينز د طالبانو په اړه دانګلستان د ټايم په اخبار کې (اګست ۱۱-۱۹۹۷) هم ليکلې ده. خو له بده مرغه چې ځينو تش په نامه مشرانو خپل بې ارزښته ځانونه، افغانان او افغانستان په ډېره ارزانه بيه وپلورل. پخوا چې به يو ملک په کلي کې ولسوال ته په شيطانى مشهور ش به ټوله ولسوالى کې به يې بچيان او لمسيان د شيطان د زامنو او د شيطان د لمسيانو په نامه يادېدل. اوس له روسانو او انګرېزانو سره د جاسوسى غتې دوسيې لرى کتابونه پرې ليکل شوى دى خو د شرم پرځاى لا وياړي هم اوس افغانستان ملى مشران نه لري او دا يې ماته پرېوتل ښکاري.

ګونډي او ډلواکي جوړښت مو نور هم جلا کوي، د ژوند کچه مو راټيټوي موږ تر ډېره پورې ملى جوړښت او جولې ته اړ يو.

## د کاڼي کرښه:

ځينې وېناوې د کاڼي کرښې وې، د پخوانى اسلامى انقلاب حرکت مشر ښاغلي مولوى محمدى د جهاد په پيل او پاى کې زما تر مخې دوه



خبرې کړې وې او پخپله يې ويلې وو چې زما خبرې کاڼي کرښې دي.

د جهاد په پيلکې يې ډېرې سترى افغانى غونډې ته د خبرو په ترځ کې وويل چې يوه لوګرى راته وويل امير صاحب! کور مې روسانو بمبارد کړ، وسوزيد، ما ورته وويل چې الحمدلله. بيا يې وويلې چې ښځه مې شهيده شوه، ما ورته وويل چې ثمه الحمد الله، بيا يې وويل چې لور مې ټپي شوه، ما ورته وويل چې ثمه ثمه الحمدلله.

مجاهدو مهاجرو ورونو دا ځکه چې د غه ربړې او ستونزې ډېر ثوابونه او اجرونه لرى، په پاى کې يې راته وويل چې د لور د درمل وسه نه لرم مرسته راسره وکړه. ما ورته ووېل چې زه تر تا بې ځو کې يم. زه ولاړ شه چنده وکړه او ماته هم دوعا کوه چې خداى راته څه راکړى بيا به يې له تاسى نه قربان کړم.

مولوى محمدى وويل ورونو افغانانو د جومات کونج به په تاج محل ورنکړم. لال به کنډواله کې وي، جهاد اسلامى فريضه ده او له نفس سره جهاد تر ټولو نه ښه دى، د دې فانى دنيا خوندونه زموږ له پاره نه دى. کلونه تير شول جهاد پاى ته ورسېد، کله چې يې له بى بى سى سره په مرکه کې وفرمايل چې د افغانستان آب و هوا مې په صحت برابره نه ده وار له واره د افغانانو له غمه ځينو پاکستانى عالى مقاماتو خپله اسلامى او د ښه ګاونډيتوب دنده ترسره کړه، جناب محمدى صاحب ته يې د اسلام آباد په ST60 - F11-4 نظام الدين روډ حيدرى چوک چپې خواته پر لوړه غونډۍ حشکه ورکړه. اوس د جومات کونج تاج محل شو ځانته په خپله سپينه مانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ناست دی وایي الحمدلله او په دالرو سوداګرۍ ته وایي ثمه الحمدلله. په دوبۍ کې مارکیټونه ثمه ثمه الحمدلله. خو د شهیدانو کونډې او یتیمان چې په مرداریو کې د چرګانو د پښې د خواړو له پاره لټوي هغوی ته بیا هاغه الحمدلله. د ښارویو په شان وابښه خوړل ثمه الحمدلله. ماشومان په جوماتونو کې پرېښوول ثمه ثمه الحمدلله، د لوږې له لاسه فحشا ته اړېدل ثمه ثمه ثمه الحمدلله، ځانته دغه او افغانانو ته هغه اجرونه او ثوابونه لري. فاني جهان پر باقي جهان بدل شو.

دویمه خبره: د جهاد په پای کې محمدی غونډې ته وویلې چې خلک ناپوه دي په ناپوهانو کې ارزال ډیر وای که د هېواد مشر په انتخاباتو راشي ارزال په ازیل وټاکي. موږ باید په اسلامی اصولو د قیادی شورا څخه د اهل حل و عقد په طریقه یو اهل امیر وټاکو. وروسته بیا جناب سیاف وویل چې اصلاً دې ته اهل عقد حل وایي او موږ دا څو کسان اهل حل مشکلات یو. همغه وو چې نااهل حل مشکل مشکلات جناب رباني راغی او څلورنیم کاله توره تیاره د تاریخ پاڼه شوه. ستره پوښتنه دا ده چې دوی ولې د خپلو تنظیمونو په امارت کې دغه فورمول پلی نه کړ. هلته یې د خپلو ځانونو له پاره اهل ایزار بند او دلته یې اهل حل و عقد ځانونه بانه جوړه کړه او افغان ولس یې په لوی لاس اهل خون و غم کړ.

وایي چې ځان پېژندنه خدای پېژندنه ده. دوی خپل ځانونه نه و وپیژندلي، هریوه ځانته د حضرت عمر فاروق (رض) پیښې کولې چې مفلسان وو فاروقي وو، چې ملیونران شول فرعونان شول. په ډیره بیړه یې



اسلامی لاره پرېښووه او خپله انساني کمزورتیا یې زبات کړه.

د اهل حل و عقد یو بل ملاصاحب وویل چې زه د ځینو په شان عیاش نه یم چې بهر لاړ شم، زه خپل وطنی او فقیری ژوند نه پرېږدم، په حبیب بانک کې یې فورمه ډکه او څلوېښت ملیونه دالر یې وروا چول د حبیب بانک مشر وویل چې که له لسو ملیونو نه ډېر وي د آر له مخې یې د لاسته راوړلو پوښتنه کېږي.

د اهل حل و عقد ملاصاحب لیکلی و چې «خدای راکړی دی» د بانک مشر وویل چې بې شکه خو لاسوند ولیکه، افغانی ملاصاحب ګورنر ته مانېژن شو، ګورنر د بانک مشر ته سپارښت وکړ چې څه لار ورته جوړه کړه، د بانک مشر څلور فورمې ورکړې چې لس لس ملیونه په څلورو نومونو په کې ولیکه. د دغه ملاصاحب دغه څلوېښت ملیونه دالره په دریاب کې یو څاڅکی دی. د پېښور د کارخانو، کراچۍ او د وبی ترمنځ سوداګرۍ یې ښه په خوند روانه ده، شپږ جریبه ځمکه د ایبټ آباد په ښار کې لري، پر دغه جناب باندې هم ځیني پاکستاني ډیر زړه سواندي وي.

دغه ملاصاحب لږ تر لږه سل لارۍ د رُخامو او مرمرو پاکې توږل شوې سل لارۍ تیرې د څرخې پله له کارخانې نه یووړې، وروسته یې بیا د کارخانې ماشینونه هم یووړل. که څه هم زه محاسب نه یم خو لږ و ډېر د لسو ملیونو دالرو اټکل کولای شم. اوس به انشاءالله چې ایبټ آباد کې بنګلې جوړې شوې وي.

زه له محمدي نه پوښتنه کوم چې ستاسې د قیادي شورې د ملګرو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهاد اعلانونه، نعرې، تبليغ او شعارونه چې د افغان ولس د احساساتو د پارولو ستر لامل شول، يونيم مليون افغانانو د قيادی شورا تر بيرغونو لاندې ځانونه بلهار کړل، په لکونو معيوبين، کونډې او يتيمان شول، ديرش مليونه ماينونه خښ پاتې شول بربېره پر دې چې د قيادی شورا غړو او يو څو قوماندان صاحبانو هر يوه له سلو نه تر شپږو سوو مليونو دالرو پورې زېرمه کړل د افغانانو له پاره بې پايله څه شوه؟

نن سبا افغانستان په ټوله نړۍ کې بدبخته هېواد او افغانان بدبخته وګڼل شوي دي. د قيادی شورا له لاسه د هېواد ځمکنی بشپړتيا له ګواښ سره مخامخ دی، له غميزو نه اوړ داستان جوړ شو چې پای نه لري.

آيا دا جهاد و که د افغانانو بيځايه ټولوژنه؟ که جهاد و د چا پر وړاندې و؟ که د کمونستانو او روسانو پر وړاندې جهاد و نو بيا مو ملګری په کوم ضمير، په کومو اخلاقو، په کوم اسلاميت او انسانيت د روسانو د ځانګړي استازي ترځنګ ناست وی؟ ولې له هغوی نه د افغان وژلو له پاره مرسته اخلی؟ ولې روسانو ته لار ورکوی چې خپل غچ په افغانی ګوډاګيانو ترسره کوی؟ ولې د هغوی سياسی موخې او پوځي پلانونه پلي کوي؟ ولې ځينې کسان له ايرانيانو نه ډالر اخلی او د هغوی د کرکېجنو موخو د ترسره کولو له پاره زموږ هېوادوال وژني؟

زه له قيادی شورا نه دا پوښتنه کوم چې افغانانو تاسې د اميرانو، ليډرانو، رهبرانو، قايدانو او په نورو غټو غټو نومونو يادولی اوس مو په څه نامه ياد کړی؟



د قيادی شورا ځينی غړی او يو شمېر نور افغانان له طالبانو سره دښمن دی، په افغانانو کې دود دی چې که څوک بد کارونه وکړی خلک د هغه مور و پلار ته سپک او بد وايی که طالبان بد وی نو هغوی د قيادی شورا د اعمالو نتيجه ده، طالبان د زبانی او د قيادی شورا له سياسی بی کفايتيو نه پيدا شول د قيادی شورا د غړيو او د ځينو نورو مانۍ او بنګلې افغانانو ته ډېرې ګرانی پرېوتې.

د افغانستان ديوالونه ونړيدل د دوی د بنګلو ديوالونو اوچت شول، افغانستان خرڅ شو دوی بنګلې واخيستې کابل ښار ړنګ شو، د دوی سالونونه جوړ شول، د وطن هره ټوټه د دوی د خوب خونې شوې د کابل موزيم ښ نګلو ديکوريشن شو. د افغانانو وينې يې په تشنابونو او شاورونو کې بهېږي او غسلونه او اودسونه کوی او بيا خدای يادوی.

په دې ليکنه کې زه ځکه "محمدی" صاحب ته وايم، دا ځکه چې "محمدی" صاحب له مادی او مانيز پلوه د نورو په پرتله پرښته ښکاری.

## اسلامي نظام:

زه په دې موضوع کې د ناپوهی له کبله له ډېر پام نه کار اخلم، خدای دې وکړی چې د احساساتو د تراغېزلاندې څه قلمی تېروتنه رانه ونه شي.

تر هغه ځايه چې ما د قرآن مجيد تفسير او د نبی عليه السلام مبارک احاديث لوستلی دی که دا ووايم چې موږ تش په نامه دخولې مسلمانان يو ډېره به ناسمه نه وي. که په زرو مسلمانانو کې يو ووايی چې - اسلام به

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو خو ما د دغه مشر خبره وروگر ځوله او ورته و مې ویل چې که په افغانستانکې ملی خاینان پر پوړیو وویشل شی څوک له ډاکټر محمد حسن شرق نه لومړی کیدای نه شی. زه زبات لرم چې د محمد داود خان د کودتا او بیا وروسته د محمد داود خان د وژلو پلان محمد حسن شرق جوړ کړی و.

یو تکی پوره راته څرگند نه دی چې په افغانستان کې د کی جی بی لومړنی غړی کارمل و که محمد حسن شرق؟ په هر ډول دا کیسه هم لویه ده.

پردغو وروستیو په روم کې سردار عبدالولی خان د اعلیحضرت نژدې سلاکار و. وروسته بیا هلته دوه گروپه جوړ شول او یا بل نوې گروپ جوړ شو. هماغسې چې د سردار محمد داود خان پر وړاندې سردار عبدالولی خان دریدلی و همداشان سردار مصطفی خان د سردار محمد نادرخان زومی او د اعلیحضرت لمسی د سردار عبدالولی خان مخې ته ودرید، ښاغلی وزیری چې د اعلیضحرت په دفتر کې کار کوی سردار عبدالولی خان یې پریښوو او د سردار مصطفی ترڅنگ ودرید. ښاغلی واصفی هم د سردار محمد داود خان له امله له سردار عبدالولی خان سره دوستانه اړیکی نه لرل. ښاغلی وزیری په قوم الکوزی دی او ښاغلی واصفی هم اوس د سردار مصطفی ترڅنگ درې ډلې جوړې شوې. د الکوزیو ډله د وزیری په مشری، د ستمیانو ډله د سیرت په مشری چې د یونس قانونی باجا دی. او له امریکایانو سره د ترلیو افغانانو لکه حاجی عبدالحق، هدأیت ارسلا او حامد کرزی ډله.

جنرال عبدالولی چې له دغه بهیر نه زره توری شو ځان یې څنگ ته کړ.



د ستمیانو د اصلی مشر احمدشاه مسعود اړیکی له اعلیحضرت سره د حزب اسلامی د وینا له مخې په مجاهد ولس کې هم راغلی وو. کله چې ستار سیرت، جنرال ورد گ، فاطمه گیلانی، حاجی عبدالحق او حامد کرزی د کانگرسمن دینه روره باکر نه راچاپیر شول د هغه ذهن یې د طالبانو په اړه واړاوه.

هغه یې داسې پوه کړ چې ترڅو طالبان واکمن وی دروغې جوړې لار نه شته، ښایی طالبان بې جوکې کړای شی چې د مسعود و دوستم غونډې لوېې جرگې ته غاړه کیدی او اعلیحضرت ته لار پیدا شی.

هغه ورځ چې زه د نیویارک ته د افغان منځی غونډې ته روان وم سردار مصطفی خان له روم نه تیلفون وکړ چې اعلیحضرت غواړی تا وگوری، د امنیتی تشکیل جوړولو ته اړتیا ده او په دغو نیژدې ورځو کې به ستر بدلون راشی. ما ورته وویل چې زه خو همدا اوس نیویارک ته روان یم بیا به له هماغه ځایه ورشم. د نیویارک په غونډه کې د امریکې ستر و ځانگړی استازی د امریکی د مرستو یادونه وکړه. څوک چپ وو او چا د منلو پردود سر ورته ښوراوه.

ما ورته وویل چې زه ددې پوښتنې او یوه غوښتنه لرم. که موږ چې له تاسې د لویې گډون کوونکی وو، نو د شوروی امپراتوری له ړنگیدو سره خو تاسې د ټولې نړی یوازینی ځواک او امپراتوری شوی زموږ برخه څه شوه؟

که موږ ستاسې تنخواه خواره جگړه مار وو، نو تنخا مو څه شوه؟ او غوښتنه مې دا وه چې موږ له تاسې نه وسله ډالر او نورې مرستې نه غواړو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه راته ووایې چې «تاسې په «ورلړزینو اردو» کې زموږ د هېواد نقچه څرنګه ده. چې خدای ته صبر وکړو او غلی کینو.

افغانان لومړی په خندا او ترڅک چکو وروسته بیا غلي او اغیزمن شول. دامریکې حکومت استازې هم ډیر تروش شو او سر یې ټیټ واچاوه بیا یې وویل چې زه جنرال ساپی ته ځواب نه لرم، نن ماښام واشنګټن ته ځم او سبا سهار به دا خبرې خپلو مشرانو ته ورسوم.

ماښام واشنګټن ته تر تګ مخکې میرمن فاطمې ګیلاني وویل چې اعلیحضرت نن سبا مزارشریف ته روان دی. ملګری په واشنګټن کې له حاجی داود کره میلسانه وو، زه پخوانی ژمنې له مخې په کانګرس کې د «وینه روره باکر»« دفتر ته لاړم. سره له دې چې ښېښه مې وغوښته چې میلمه خو بیا هم ترنیمه شپه پورې ورسره وځنډیدم. هغه پوښتنه وکړه چې ته څرنګه دامهال امریکې ته راغلې. اعلیحضرت خو مزار ته ځی. ما ورسته وویلی چې زه خبر نه یم، دا د هغوی خپل کار دی.

له ما نه یې پوښتنه وکړه چې د ډیرو ملګریو دا خوښه ده چې مزارشریف ته لاړ شي. ته څه وایې؟ ما ورته وویل چې موږ د ټولې نړی لاسوهنې غندو یوازې افغانان پر سعودي عرب څه نیوکه نه لری دا ځکه چې هلته زموږ سپیڅلی خوندی دی. که اعلیحضرت تلونکی وی نو د سعودی په الوتکه دې لاړ شي او د سعودی شاهي کورنی دې هم څوک له ځانه سره ملګری کړي. لومړی دې په کندهار کې کوز شي د خرقې مبارکې زیارت دې وکړی بیا دې مزار ته لاړ شي او د شاه اولیا زیارت دې وکړي وروسته چې بیا څه



کوی پروا نه شته. «دینه روره باکر» خپل سیاسي سلاکار «پال» ته لارښوونه وکړه چې د سعودی د شاهي لوړ مقام ته لیک ولیکی او د هغوی سفیر ته یې وسپاری.

د حاجی داود کورته ولاړم او دا کیسه مې ملګریو ته وکړه، ټول هیښ پاتې شول. سبا سهار چې د ښاغلی حداد په کاله کې وم د طالبانو پرمختګ پیل شو، امریکا غږ به هره ګړې ماته خبر راکاوه او ما به روم ته د جلال آباد تر نیولو او ان تر سروبی پورې روم خوښ ښکاریده کله مې چې د کابل د نیولو راپور ورکړ څو دقیقې وروسته مصطفی راته وویل چې د راپور په صحت کې غور ته اړتیا ده. ماورته وویل چې زه خبریال نه یم او د تیلفون غوږی مې کیښووه. کله چې مزار ته د تګ پلان شنډ شو دویم پلان دا و چې طالبان به د جلال آباد سروبی په شا و خوا کې پاتې شی. بیا به دوی له مسعود سره روغه وکړی مانا دا چې اعلیحضرت به د یوې معاملې په ترڅ کې راشی. طالبانو کابل ونیو، او دا پلان هم بریالی نه شو. وروسته بیا دریم پلان رامنځته شو. هغه دا و چې په پښتنو کې د تبرنی ښلتون او په خپل منځی جګړو اخته شی تر څو طالبان له دې لارې غاړه کیدی.

ددې ډرامې آر لوبغاړی ستمیان وو چې مشری یې مسعود بیا قانوني، ډاکټر عبدالرحمن او ډاکټر عبدالله کوله. سیرت هم مخکښ په توګه د اعلیحضرت جنډه پورته کړې وه د هغه یو ډز دوه مرغان وو د آلمان او استانبول د غونډو آرمانا او جاج د اعلیحضرت له نامه نه ناوړه ګټه او د پښتنو ترمنځ د جګړو جوړول وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هامبورگ په شورا کې د شپې له خوا زه ، وزیری، ډاکټر لودین، او یو پخوانی دیپلومات په یوه رستوران کې تر دوه بجو پورې کېناستو. وزیری طالبانو ته د کنځلو تر بریده غوسه و ده ویل چې ډیر ژر به طالبان له کندهار نه ورک شي.

ما ورته وویل چې زه او ډاکټر لودین دغه کسان پیژنو، مور د طالبانو پروا نه لرو خو ډاریږم چې لومړنه وی ځکه چې پر مسعود باور نه شته. ستمیان زما دښمنان نه دی، زه په خپله ساپی یم او دا دلوی خدای جزایی قوم دی. د ستمیانو دښمنان د «زیو زیو »* مشران دی، وزیری وویل چې که مسعود هرڅنګه وی تر طالبانو ښه دی.

کله چې خپلې کوټې ته راستون شوم ښاغلی کاروانی، او مصداق مې له خوبه راویښ کړل همدا شیبه ښاغلی انځور صاحب له دو ملګریو سره راپیدا شو. ما دوی ته کیسه وکړه خو ډار او اندیښنه راته پیدا شوه.

د روژې په میاشت کې کندهار ته لاړم. پر هماغه شپه په خپله امیرالمؤمنین« ملامحمدعمر مجاهد »د ملانقیب الله الکوزی پر وراندې جګړې ته تللی و. سهار له روژې او بې خوبۍ سره سره بیا هم لیدل نه شوه په همغو ورځو کې ربانی هم پاکستان ته راغلی و. داسې ښکاریده پاکستانیان به د ربانی او مسعود له تاوتریخوالی نه ګټه واخلی او ربانی به په خپله غیږ کې ونیسی. پاکستانی لاپوه نه وو چې دا هم د سکې بل مخ دی. د لندن کنفرانس ته چې د ښاغلې فاطمې ګیلانی له خوا جوړ شوی و

* هدف ښتنې ځانګې، لکه محمدزی، کرزی، بارکزی، الکوزی او داسې نور دی



وبلل شوم. دوی لیکلی و چې ډاکټر عبدالله د شمال د ائتلاف د بهرنیو چارو د وزارت مرستیال او مولوی عبدالحکیم مجاهد په اسلام آباد کې د طالبانو د سفیر په توګه ټاکل شوی دی. ما خپل اعتراضیه لیک د افغانستان د نیمروز اخبار ته ورکړ او کنفرانس مې پریښوو او له ګډون نه مې ښننه وغوښته. ما ولیکل چې د شمال په نامه ائتلاف ته چې یو ملي خیانت دی د دولت په نامه سیاسي مقام ورکول، د تجزیې مانا لری. سیاسي مقام که د هرچا په نامه وي ښایی د افغانستان په نامه یاد شي، نه د شال او جنوب په نامه، د ستمیانو د پخوانی جوړ شوې پلان له مخې د جرمنی په بن ښار کې غونډه جوړه شوه. وایی ورېا شراب قاضي هم څښې. په دې غونډه الوتکو ټکټ، لګښت او جیب خرڅونه ورېا وو له هر کاله نه پلار زامن، ورونه، تروزی ان تر باجا ګانو پورې هم راغلی وو.

دلته سردار مصطفی هم ګډون کړی و او دا یې ویلی وو چې که پر سیرت څه بدنامی راځی غواړم چې له هغه سره ونډه واخلم. په خپله اعلیحضرت ددوی له ډیرو کارونو نه خبر نه و. که له طالبانو سره شخصی او د «زیو زیو »اختلاف نه وای نو ښاغلی واصفي، د حاجی عبدالحق، حاجی قدیر، محمد یونس قانونی، ډاکټر عبدالرحمن او عبدالله په اړه یوه مقام ته داسې تور مفصل لیک لیږلی و چې زه اخلاقاً د هغه د یوې کلمې ذکر هم نه شم کړای.

په لندن کې ما ته د جګدلګ قوماندان محمد انورخان وویل چې ډیر ژر به د طالبانو تغر ټول شي. ده زما د پوښتنې په ځواب کې وویل حې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



طالبانو پرضد لویدیزو سیمو کې ملاملنک، په منځنیو سیمو (جبل السراج) کې حاجی قدیر او په ختیزو سیمو کې روح الله او ملک زرین تاکل شوی دی چې د طالبانو پر وړاندې د پښتنو نوې جبهې پرانیزی.

خو کله طالبانو چې مزاشریف ونیو، ددوی دغه دریم پلان هم ناکام شو.

مخکې مې وویل چې له دغو کیسو نه کتاب جوړیږی زه نه شم کړای چې دا هر څه په یوه لیکنه کې راونغاړم. په دغه پلان کې هڅه کیده چې د ترکیې له لارې له ازبکستان نه افغانستان ته د پښتنو د ټکولو له پاره نوې لار جوړه شی. موخه دا وه چې پښتانه د تاجکو، هزاره ګانو او ازبکو پروړاندې یووالی له لاسه نه ورکوی. بنایی پښتو له پښتانه سره د «زیو زیو» په نامه لا تباه او برباد شی.

د ماسپښین لمونځ مې وکړ درې بجې کیدونکې دی وخت هم لږ پاتې دی، چې دارو وخورم خوب راباندې راولی. دا لړی به پای ته ورسوم او د امریکایانو په اړ به لنډیز ولیکم: د امریکائیانو سیاست په زور او ګټو ولاړ دی، له چاسره د دښمنۍ او د دوستۍ پروا نه لری، څومره چې څواکمنیږی د مخامخ لوری د پرځولو اشتهایې لا ډیریږی. ډیموکراسی، بشری حقونه، نړیواله بښنه، ملګری ملتونه، دا ټول هسې تشې خبرې د. نړیوالې مرستندویې ټولنې د جاسوسی شبکو له خوا اداره کیږی. په امریکا کې بشپړ روغ توکمونه (نژادونه) د څمکې له مخ نه ورک شول. امریکا دوه حکومتونه لری چې یو یې ښکاره او بل یې تر څمکه لندې پټ واک حکومت



دی چې هغه د یهودو او مافیا تر لاس لاندې دی.

د انګریزانو سیاسي زغم ډیر دی خو په قامرس کې یې له غچ اخیستلو پرته بل څه نه شته، دوی اوس هم امریکاییانو ته لارې ښیی.

هغه کارونه چې زموږ په هېواد او سیمه کې شوی او کیږي دا یو هم ناڅاپی نه دی، دا هر څه ګام پر ګام د امریکې له خوا څارل کیږي.

په ځینو پېښو کې چې د و په نړیوال ډګر کې یوه خوله نه وی او یا یې د یوه هېواد له مشر نه په ښکاره بد راځی ددې مانا دا نه وی چې هغوی یې له منځه وړلای نه شي، دا ځکه چې د هغو په له منځه تګ سره پر له پسې داستان پای ته رسیږی او بیا یې انې بانې له منځه ځي. یو ځل یې افغانستان د شوروی په خوله کې ورکړ، عراق یې پخوانی دښمن و. کله چې خمینی راغی ایران یې د نوی دښمن په توګه له عراق سره په جګړه واچاوه، عراق یې له کوېټ سره واچاوه او خپلې پښې یې هلته لا ټینګې کړې.

امریکایان پوهیږي چې په منځنی ختیځ کې اسلام جذبه مړه ده. هلته دوه ډوله هېوادونه د، ماړه او پانګوال یې خپل واک وګړی په امریکایانو ساتی او بې وزلی یې د امریکا مرستو ته اړ دی.

اخواني ترورستی ډلې په خپله امریکایانو جوړې کړې دی، دا ددوی له پاره د پرله پسې داستان ښه لړی ده. د اخوانیو مشران په لندن کې اوسیږي نو دا به کوم لوده او احمق ومنی چې د هغوی له موخې او غوښتنې پرته به هلته یوه شپه هم تیره کړی. هغه تل د دموکراسی په نامه د هیوادونو د حکومتونو دښمنان ساتی. په افغانستان کې کله چې جهاد د کمونستانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښمنان يې ساتل، اوس د مجاهدينو ساتي.

دا به کوم پاګل ومنی چې د پاکستان د اتومی وړتیا له بنسټ ایښودلو او جوړولو نه دوی خبر نه وو. امریکایانو دلادن زوی اسامه له خپله دلې سره افغانستان ته راوست. تر ۱۹۸۸ کال پورې «سی، آی، ای» حکمتیار ته د میاشتې یو ملیون ډالره جیب خرڅ ورکاوه د ژورې اډه چې امریکایانو په کروز توغندیو وویشت په دغه کار کې د امریکایانو ځانګړې غوښتنې وې، کانګرسمن چارلز ولسن او پاکستانی منصبدار له ښاغلی مولوی جلال الدین حقانی سره یو ځای و، د پاکستان پروا نه لری هغوی ته یې هندوستان ساتلی دي. اوس دی غواړی چې افغانستان د ایرانیانو په خوله کې ورکړی، اصلی موخه د ایران تباهی ده هغوی پوهیږي چې موږ تر پنځوسو کالو پورې رغیدای نه شی.

د ایران ړنګول ځکه ارزښت لری چې حزب الله په لبنان کې د یهودو پر وړاندې بریالی دی او روسانو ته هم ډیر نژدې شوی دی، که ډیر پیاوړی شی بیا سعودی او خلیج هم له ګواښ سره مخامخیږی. ما پرون «د دوشنبې ورځ سپتمبر اوومه نیټه-۱۹۹۸» روم ته تیلفون وکړ چې مزاشریف ونیول شو والی وتاکل شو ایران ګواښ ورکړی دی تاسې ولې تر اوسه پورې غلی ناست یاست. د مزارشریف په لومړی ځل نیولو کې څه ناڅه د جنرال عبدالولی خان ونډه او واک و اوس ماته هم پوښتنه پیدا شوې ده.

لکه چې له ستمیانو او «زیو زیو» نه له روم څخه د غنې جال چاپیر شوی وی. ما کانګرسمن «د ښه روره باکر» ته لیکلی وو چې ستاسې



تر څنګ افغانی وژونکی جنایتکاران او ملی خاینان راټول شوی دی، غولوی مو، هغوی پښتو وایی خو پښتانه نه دی، هغه ځواب راکړ چې ماله مسعود و دوستم سره خبرې کړی دی، هغوی لویه جرګه او اعلیحضرت غواړی له طالبانو نه ښه دی، دغه بدبخته امریکایان تراوسه لا مسعود نه پیژنی، کټ، مټ له قشقله توره یلی چې په اوبو کې غوټه یو ځای وهی او سر بل ځای را باسي.

*****

***

*

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستان د اسلامی امارت مشر،

جلالتمات امیرالمومنین ملامحمد عمر «مجاهد»!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته.

وطن ته د خدمت له پاره له خپلو یارانو سره بریالی اوسې، پاک خدای (ج) دې حالات د یر ژر بنه کړی چې د ولس د هوساینې له پاره خپله اسلامی دنده او وظایف ترسره کړی.

وروره: د بېوزلي لاس و پښې غوڅول هرڅوک کولای شی. خو که د شریعت په چوکات کې تاسې د تش په نامه مشرانو او ځینو نورو چې قتلونه، جنایتونه، او خیانتونه یې کړې دی له جرم سره سم په دار و زړول اویا مو لاسونه او پښې ور غوڅې کړې بیا دې د حضرت عمر فاروق (رض) د سپیڅلې عدالت مقام مبارک شه. او که دا نه وی بیا نو د عمر نوم هم لا زیاتی دی تینګ دې وی شریعت او د فاروق اعظم نیاو، ودان، خپلواک او یو موټې دې وی افغانستان.

مع السلام

جنرال ساپی

۹۸-۹-۱۹





د خوست په ژوره کې جالزولسن

(c) ketabton.com: The Digital Library







کرنل رابرت براون



چارلز ولسن د خوست په ژوره کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



DANA ROHRABACHER

Congress of the United States
House of Representatives

February 20, 1998

General R. Sall
Fax: 44 161 969 0312

Dear General,

I received your fax. Sorry I didn't get back to you sooner. I've been busier than at any time in my life. General Wardock came into my Washington office to say hello. His old wounds are still an irritation. He is not optimistic about Afghanistan, but he hasn't given up.

About the Taliban... They can end the conflict tomorrow by permitting the King to return to oversee democratic elections. Instead, the Taliban opt for power. I've discussed the situation with Masood and Dostum, as of late. They are no worse than the Taliban in some ways, and better in other ways. Whatever, at least they claim that they will organize free elections and permit the King to play a role.

Afghanistan needs the King to return, but he is not acting assertively. I'll do my best, but the King must do something.

Hope you are well.
Best wishes,

Dana Rohrabacher
Member of Congress



ښی خواته حقاني، پاکستاني منصبدار او کانګرسمن چالز ولسن د تکساس د
مجاهدینو د اکمالاتو مشر په ژوره کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



FAX MESSAGE

F.A.O. Congressman Dana Rohrbacher

From General R. Safi.

our fax: 44 161 969 0312

12 February 1998

1 page

My dear friend Congressman Dana Rohrbacher,

I hope you are well. I tried to call you by telephone last week, but sadly, received no reply.

During the many years that I have known you, I have learnt that your intentions with regard to the ever increasing problems in Afghanistan are honourable and helpful. It is vital that His Majesty the King be persuaded to take effective action at the right time. After hearing your pro Taliban statement in the American News in Peshawar in 1995, I became somewhat more understanding of their cause. I do not consider myself to be pro Taliban, but as an Afghan, I feel I must strongly resist those who are being sponsored by Iran and Russia.

Last month, I made a short visit to Kandahar (via Pakistan), where rumours were rife that you were involved in discussions with well known war criminals. These criminals have no further role to play and they will not be tolerated by the Afghan people. I believe this is a last attempt by them to extend their existence, by using your good reputation, the name of the King and the Loya Jerga.

As your friend I would advise that you exercise added caution, so as not to lose your position of invaluable and unbiased respect within the Afghan nation. This is vital if a negotiated peace settlement is to be reached.

Finally, I wish you well and hope to hear your news soon.

Yours sincerely,

R Safi

12-2-98

R. SAFI

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library